د دفاعي او امنيتي مطالعاتو
د شاهي متحده خدماتو انستيتوت

Funded by
the European Union

رامنځته کېدونکي نظرونه

# يوه نامشهوره ننګوونه

## د افغانستان په پوهنتونونو کې د اسلامي دولت له ګواښ سره د طالبانو مقابله

Antonio Giustozzi

مې 2023

# اجرائیوي لنډیز

د اسلامي دولت د سویلي او مرکزي اسیا څانګه، چې خپل ځان د خراسان اسلامي دولت (IS-K) بولي او د خلافت د خراسان ولایت په نوم هم پېژندل کېږي، ښایي د بریتانیا د رسنیو له پامه غورځېدلی وي، خو په سویلي او مرکزي اسیا کې د همدې ډلې د لوړې کچې د بریدونو له امله چې زیاتره په کې د ملکیانو بې رحمه وژنه هم شاملېږي، لا تر اوسه پورې د یوې جدي ترهګریزې اندېښنې په توګه پر ځای پاتې ده.  په دغه رساله کې د افغانستان په پوهنتونونو کې د IS-K د شتون او د هغو پر وړاندې د طالبانو د رژیم له خوا د ترهګرۍ ضد له پامه غورځېدلې هلې ځلې څېړل شوې دي او دا پوښتنه یې کړې چې ایا د طالبانو  هلې ځلې څومره اغېزمنې دي او دا چې ایا IS-K یې پر وړاندې ځان اعیار کړی که نه.  دغه څېړنه له ترهګرۍ سره د مبارزې (په پوهنتونونو کې د IS-K فعالیتونه) په اړه د طالبانو کارکړنه او د هغوی د همدې هڅې پر وړاندې د IS-K انطباق د یوې موردي څېړنې په ترڅ کې ارزوي.  دغه څېړنه د IS-K له جګړه مارو، د طالبانو له امنیتي او استخباراتي چارواکو او کارکوونکو او د پوهنتون له محصلینو سره د 25 مصاحبو له مخې تر سره شوې چې د 2021 کال د اګسټ په میاشت کې په کابل کې د رژیم له بدلیدو وروسته تر سره شوي دي. د دې لپاره چې د طالبانو له ترهګرۍ سره د مبارزې عملیاتي چاپېریال وڅېړي، نو دا رساله نویو شواهدو او مدارکو او د مخامخ او له لېرې لارې تکنیکونو په ګډون د افغانستان له پوهنتونونو څخه د IS-K پرمختللی استخدام په جزئیاتو سره تشریح کوي.   د IS-K د استخدام بهیر په نسبي توګه یوه کوچنۍ ډله تر هدف لاندې نیولې- چې هغه هم سلفي محصلین او د سلفي عقایدو لرونکي دي- چې دا چاره په خپله د هغوی د استخدام کېدونکو کسانو شمېر ډېر محدودوي چې هر کال له 100 ګونو کسانو څخه نه پورته کېږي. خو بیا هم، استخدام شوي کسان له کیفي اړخه په لوړه کچه کې دي او IS-K چې لوړه ایډیالوژي او نظم لري د خپلو عملیاتو د دوام لپاره په دغو کسانو پورې تړلې ده. په حقیقت کې ظاهراْ طالبانو دغې ستونزې ته جدي پام ور اړولی ده.

د طالبانو له خوا په پوهنتونونو کې د IS-K د فعالانو په شړل کېدو سره، طالبانو د استخدام لپاره د IS-K وړتیا را کمه کړې ده، خو له ورایه ښکاري چې دا یوازې یوه لنډمهاله چاره ده، په تېره بیا کله چې IS-K په اسانۍ سره خپل ځان له نویو شرایطو سره اعیار کړی او د خپل استخدام تکنیکونه یې اصلاح کړي او زیاتره د ټولنیزو رسنیو پر کانالونو باندې اتکاء کوي، د خپلو ټولنیزو رسنیو فعالان له هېواد څخه بهر لیږي او خپلو غړو او همفکرو ته د طالب نفوذي کسانو او بغاوتګرانو په اړه خبرداری ورکوي. سربېره پر دې، لاندې شرایط د IS-K د جذب په ګټه لا دوام لري، له هغې ډلې د حنفي همکارانو له خوا د سلفي محصلینو جدي ازار او ځورونه، د طالبانو د پولیسو او استخباراتو له لورې له شکمنو کسانو سره تند چلند، له خپلو شرایطو څخه د محصلینو پراخه ناهیلي او د لیدلورو نشتوالی او له تشدد پرته پر هغو افراطي ډلو باندې د طالبانو فشار کوم چې په محصلینو کې ریښه لري، لکه حزب التحریر، جمعیت اصلاح (Hizb ut Tahrir, Jami’at Eslah) او نور چې ښایي خپل ځینې غړي د IS-K لور ته ور مات کړي.

په بله وینا، په پوهنتونونو کې له ترهګرۍ سره د طالبانو مبارزه پر سرټکولو باندې متمرکزه ده، خو د هغو د مخنیوي لپاره په ظاهره توګه ډېر کم موارد تر سترګو شوي دي. د IS-K د فعالیتونو د کمولو لپاره د درنو تدابیرو په کارولو سره د طالبانو وړتیا دا خطر هم له ځانه سره لري چې دا لاره چاره به په لنډمهال کې مثبته پایله خو په اوږدمهال کې به معکوسه پایله ورکړې، په تېره بیا له دې خاطره چې طالبان هڅه کوي د خپلو پلویانو او په حقیقت کې هر هغه کس کړه وړه محدود کړي کوم چې د سلفیت ضد لیدلوری لري.

## سريزه

د اسلامي دولت د سويلي او مرکزي اسيا څانګه، چې خپل ځان د خراسان اسلامي دولت (IS-K) بولي او د خلافت د خراسان ولايت په نوم هم پېژندل کېږي، ښايي د بريتانيا د رسنيو له پامه غورځېدلی وي، خو په سويلي او مرکزي اسيا کې د همدې ډلې د لورې کچې د بريدونو له امله چې زياتره په کې د ملکيانو بې رحمه وژنه هم شامليږي، لا تر اوسه پورې د يوې جدي ترهګريزې اندېښنې په توګه پر ځای پاتې ده. IS-K په تېرو کلونو کې هم د طالبانو او هم د متحده ايالاتو له لورې درانه زيانونه زغملي دي، خو بيا يې وکولای شول (لږ ترلږه په قسمي توګه) چې خپل ځواکونه محدودو خو وفاداره ولسي حوزو ته په مراجعې سره هم په افغانستان کې دننه او هم بهر يو ځل بيا سره را ټول کړي.[1] د همدې ډلې د پاکستانی برخې رول چې يو وخت د هغو په منځ کې ډېر حاکم و، د ولايت پاکستان په رامنځته کېدو سره کم شوی او اوس همدا د اسلامي دولت دا نوی «ولايت» د خلافت له اصلي څانګې يعنې خراسان ولايت سره د مالي سرچينو د تر لاسه کولو او د وګړو په استخدام کې سيالي کوي. يوه له هغو پېښو نه چې په افغانستان کې يې د IS-K د پاکستاني ځواکونو شمېر را کم کړ، د رهبرۍ دا تصميم و چې د دغې ډلې په سلګونو غړي يې د پاکستان قبايلي سيمو ته ولېږدول، چېرې چې دا ځواکونه تل د پاکستان د امنيتي سرتيرو پر وړاندې فعاليت کوي.[2] په پايله کې، په افغانستان کې دننه د همدې ډلې د استخدام سرچينو تر بل هر وخت زيات اهميت وموند.

تر اوسه پورې د استخدام دوه مهمې سرچينې، سلفي ټولنه او د پوهنتون محصلين دي (د همدې دوو سرچينو تر منځ ځينې ګډ اشتراکات شته).[3] اسلامي دولت په اصل کې يو سلفي سازمان دی[4] او دا هومره حيرانوونکې خبره هم نه ده چې د افغانستان زياتره سلفيان په دغه ډله کې جذب کېږي، ځکه چې د اوږدو کلونو لپاره د افغانستان د سلفيانو او حنيفيانو تر منځ اختلاف موجود و، په تېره بيا د ديوبندي حنيفيانو چې د طالبانو ځواکمنه څانګه ده او صوفي ډله چې د طالبانو په منځ کې پراخ شتون لري. تر 1970 لسيزې پورې د افغانستان نږدې ټول سنيان حنفيان و. افغانستان ته له پاکستان څخه د جدي «بنسټ پالو» سلفي مبلغينو راتګ د دې لامل وګرځېد چې د افغانستان د ختيځ او شمال-ختيځ سيمو زياتره وګړي سلفيت ته را واوړي. د حنيفيانو په منځ کې دوديز جريانونه لکه د تصوف اهل او لږ «بنسټ پال» جريانونه لکه ديوبنديان په ځانګړې ډول له دې اړخه په خښم راغلل. په دغه رساله کې د افغانستان په پوهنتونونو کې د IS-K د شتون او د هغو پر وړاندې د طالبانو د رژيم له خوا د ترهګرۍ ضد له پامه غورځېدلې هلې ځلې څېړل

1. لاندې سرچينې ووينئ Amira Jadoon او Andrew Mines، 'Broken, But Not Defeated: An Examination of State-Led Operations Against Islamic State Khorasan in Afghanistan and Pakistan (2015–2018)'، Combating Terrorism Center، د 2020 کال د مارچ 23؛ Antonio Giustozzi، *The Islamic State in Khorasan* (London: Hurst, 2022)؛ Pasar Sherko، 'How Islamic State Ideology Contributes to its Resilience'، د تګلارې تحليل، Fikra Forum، د 2021 کال د جولای 1.
2. لاندې سرچينې ووينئ Antonio Giustozzi، 'Intensification of Islamic State Mass-Casualty Violence in Afghanistan Reflects Funding Challenges and Restrictive Operational Environment'، Jane's Terrorism and Insurgency Centre، د 2022 کال د نومبر 9.
3. Katja Mielke و Nick Miszak، 'Making Sense of Daesh in Afghanistan: A Social Movement Perspective'، BICC Working Paper 6، 2017؛ Borhan Osman، *Bourgeois Jihad: Why Young, Middle-Class Afghans Join the Islamic State* (واشنګټن، DC: د سولې لپاره د متحده ايالاتو انستيتوت (United States Institute for Peace)، 2020).
4. د نورو سرچينو علاوه، لاندې سرچينو ته مراجعه وکړئ، Cole Bunzel، 'From Paper State to Caliphate: The Ideology of the Islamic State'، مقاله 19 Brookings Analysis، د 2015 کال د مارچ 9.

شوې دي او دا پوښتنه يې کړې چې ايا د طالبانو هلې ځلې څومره اغېزمنې دي او دا چې ايا IS-K يې پر وړاندې ځان اعيار کړی که نه. له بغاوتګرانو سره د مبارزې په اړه د طالبانو د تر ټولو پراخو هلوځلو برخلاف، د همدې مقالې تمرکز د طالبانو له خوا له ترهګرۍ سره د مبارزې پر هلو ځلو باندې ده، ځکه چې هغه وسايل چې طالبانو په پوهنتونونو کې د IS-K پر وړاندې کارولي دي، له ترهګرۍ سره د مبارزې په پرتله معمول دي: د وسله والې جګړې پر ځای له پوليسي لارو چارو څخه ډېره ګټه اخيستنه او ورسره نفوذ او د استخباراتي معلوماتو پراخه را ټولوونه.

د 2021 کال د اګست په مياشت کې واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته د دې ډلې د ترهګرۍ ضد هلې ځلې چې زياتره تمرکز يې پر IS-K و، هغه ډېر ده چې هومره نه ده سپړل شوې. دا چې له ترهګرۍ سره د طالبانو مبارزه له لويديځ تفکر نه اخيستل شوې که نه، ډېر کم شواهد شته، ان که په تاکتيکونو کې ځينې ښکاره اشتراکات هم تر سترګو شي.[5] له ترهګرۍ سره په مبارزه کې هغه تاکتيکونه چې د طالبانو او لويديځو ادارو تر منځ ګډ دي هغه د اطلاعاتي موندنو له مخې ناڅاپي بريدونه، افراطي ډلو په منځ کې نفوذ او د رسنيو په رپوټونو کې لاسوهنه دي. سره له دې هم، د طالبانو امارت (دا د طالبانو خودمختاره حکومت دی چې د 2021 کال په اګست کې رامنځته شو) په حقيقت کې د هغو يو شمېر سلاکارانو له تجربو نه ګټه اخلي کوم چې په پخواني حکومت کې يې دندې درلودې، له همدې امله نه شو کولای چې د لويديځو لارو چارو نامستقيم اغېز باندې سترګې پټې کړو. له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې له لويديځو تاکتيکونو څخه د هغوی د الهام اخيستنې اړوند بې ميلې کومه حيرانوونکې خبره نه ده، ځکه چې طالبانو په تېرو 20 کلونو کې د لويديځ د ترهګرۍ ضد مبارزو هدف و او لکه څرنګه چې طالبانو دې موضوع ته ګورې، نو همدې هلوځلو و نه شو کړای چې طالبان له واک څخه لرې وساتي. لکه کومه وخته چې د طالبانو لومړي امارت (1996-2001) کوم ترهګريز ګواښ نه و تجربه کړی (که څه هم له بغاوتونو سره مخ و) او هغه ننګوونه چې له 2015-21 کال پورې د IS-K ډلې له خوا طالبانو ته متوجه و- د واړو ډلو د پوځي واحدونو تر منځ جګړې – يو بېل ماهيت درلود او د دويم امارت له ترهګرۍ سره د مبارزې هلې ځلې چې واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته په څو اوونيو کې د IS-K ډلې کوم ترهګريز بريدونه تر سره کړل بايد له سره وليکل شي.

په څرګنده توګه، د طالبانو د ترهګرۍ سره د مبارزې ځانګړنه او اغېزمنتيا د امارت د سرنوشت په ټاکلو او په افغانستان کې په نږدې راتلونکي کې د دولت د پايښت لپاره مهمه ده. د همدې حوزې د څېړنې يو بل دليل هم دا ده تر څو له ترهګرۍ سره د مبارزې د يوې کارکړنې اغېز او اغېزمنتيا وارزوو چې که چېرې په عمدي توګه د يوه لويديځ دکتورين د ځايناستي په توګه طراحي شوی نه وي، نو پرته له شکه چې په مستقيمه توګه له هغه سره د مطابقت لپاره هم نه ده طراحي شوی.

دا مقاله د يوې ډېرې پراخې هڅې د يوې برخې په توګه له ترهګرۍ سره د مبارزې او له بغاوتګرانو سره د مبارزې په برخه کې د طالبانو د هلو ځلو په اړه د معلوماتو او تحليلونو را ټولول دي، خو دا مقاله د همدې موضوع په اړه کوم وروستی او بشپړ تحليل هم نه وړاندې کوي. موخه دا ده چې د يوه داسې رژيم په اړه له معلوماتو او رامنځته کېدونکو افکارو سره مرسته وشي چې په اصل کې له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې د لويديځ (يا بل هېڅ ځواک) له زده کړو او کړو وړو څخه ګټې اخيستنې ته لېوالتيا نه لري. د دې پر ځای، طالبان مجبور وو چې په خپله له ترهګريزو ګواښونو سره د مبارزې په برخه کې نورې لارې ومومي. ولې د هغوی تجربه له هر هغه چا سره چې له ترهګرۍ سره مبارزې کې لېواله دي، اړوند ده؟ لا اوس هم په سيمه او هاخوا سيمه کې د اسلامي دولت د يوې

5. د ځينو مخکنيو تحليلونو لپاره، لاندې سرچينو ته مراجعه وکړئ، Antonio Giustozzi، 'How is the Taliban's Counterterrorism and Counterinsurgency Evolving?'، *RUSI Commentary*، د 2022 کال د نومبر 22؛ Colin Clarke او Jonathan Schroden، 'Brutally Ineffective: How the Taliban are Failing in their New Role as Counter-Insurgents'، *War on the Rocks*، د 2021 کال د نومبر 29.

سیمه ییزې ځانګې د شتون په اړه اندېښنې شته. سربېره پر دې، له ترهګرۍ سره د مبارزې یو نالویدیځ دول یوه د رامنځته کېدو په حال کې څېړنیزه حوزه ده چې دا مقاله غواړي د هغه له درک سره مرسته وکړي.[6] د طالبانو تر حاکمیت لاندې افغانستان کولای شو د هغه رژیم د یوې موردې مطالعې د یوې بېلګې په توګه په پام کې ونیسو چې له ترهګرۍ (په تېره بیا IS) سره په داسې حال کې مبارزه کوي چې له هر ډول بهرني ملاتړ (مالي یا غیرمالي) څخه بې برخې ده، خپله لږ سرچینې لري او د تخصصي مهارتونو او پوهې له کمښت سره مخ دی. دا به په راتلونکې کې نه هومره نادره وضعیت وي او له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې د رامنځته کېدونکو لارو چارو مطالعه به په هېڅ صورت له ګټورو نظرونو څخه خالي نه وي.

دا په یاد درسره ولرئ چې دا مقاله له ترهګرۍ سره د طالبانو د مبارزې د دوکتورین په اړه بحث نه کوي، چې ښایي ان دا ډول څه هېڅ موجود و نه اوسي، بلکې د داسې لارو چارو په توګه یې څېړي چې هغوی تر لاس لاندې نیولي دي. په حقیقت کې، داسې ښکاري چې طالبان د ازموینې او خطا له یوې پروسې څخه تیریږي، چې زیاتره یې د ولایتي چارواکو له خوا پر مخ وړل کېږي، چې د مرکز له خوا له محدودو لاسوهنو سره مخ وي.

## میتودولوژي

دغې څېړنې په پوهنتونونو کې د IS-K ډلې مبارزه او له هغو سره د طالبانو د غبرګون څرنګوالی تر غور لاندې نیولی او د همدې دواړو مبارزو (ترهګرې او له ترهګرۍ سره مبارزې) د اغېز یوه ارزونه وړاندې کوي. دې ته په کتو سره چې له ترهګرۍ سره د طالبانو د مبارزې فعالیتونه لا اوس هم ودې په حال کې دي، د دې څېړنې هر ډول موندنې یوازې قسمي او ابتدایي دي. د همدې څېړنې د میتودولوژي په اړه هم ښکاره محدودیتونه شته، له همدې امله دا څېړنه له ناچارۍ یوازې د شفاهي سرچینو په اتکا، د خبري رپوټونو په کم ملاتړ او لومړنیو کتبي سرچینو ته له لاسرسي پرته، هغه هم که فرض وکړو چې دا ډول سرچینې شته، تر سره شوه. دا څرګنده نه ده چې طالبان تر کومه برېده پورې له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې د تصمیم نیوونې یوه رسمي پروسه لري او همداشان نه شو کولای له هغوی نه دا تمه ولرو چې هغه اسناد چې هغوی له خپلو دښمنانو څخه ضبط کړي دي له موږ سره شریک کړي.

دا مقاله غواړي چې په یوه ځانګړي (خو مهم) بعد کې له ترهګرۍ سره د طالبانو مبارزه انځور کړي، هغه نوی هنر چې هغوی د واک له تر لاسه کولو وروسته ورسره بوخت دي. د دې موضوع په اړه څېړنه کول یو شمېر میتودولوژیکې سازشونو ته اړتیا درلوده، ځکه چې د طالبانو تر کنترول لاندې افغانستان په اوسنیو شرایطو کې سرچینو ته لاسرسی لرل په سخت ستونزمن کار دی. البته، د همدې څېړنې تر ټولو ستونزمنه برخه د IS-K ډلې له استخدام کوونکو او غړو سره یې خبرې وي. په پایله کې، هغه معلومات چې را ټول شول پرته له شکه چې نیمګړي دي؛ معلوماتي تشې په کثرت سره شته او د مشخصو موضوعګانو تعقیب ممکن نه و. هغه تحلیلونه چې په دې څېړنه کې راغلي دي، په الزامي بڼه سره دا موضوع منعکسوي.

دا څېړنه د 2022 کال د اکتوبر او نومبر په میاشت کې له محصلینو او د پوهنتون له کارکوونکو او د طالبانو له امنیتي افسرانو سره د 20 مصاحبو او همداشان د 2022 کال د جون په میاشت کې د IS-K ډلې له وسله والو سره د درېو مصاحبو او په ورته توګه د 2021 کال په نومبر کې د طالبانو د استخباراتو له افسرانو سره د دوو مصاحبو له مخې تر سره شوې ده. دا مصاحبې د درېو څېړونکو له خوا تر سره شوې چې یو او بل یې نه پېژندل، تر څو د مصاحبو په منځپانګه کې د تحریف د سازش د خطر مخنیوی وشي. مصاحبه کېدونکو ته ویل شوي و چې د هغوی

6. وګورئ Michael J Boyle (ed.)، *Non-Western Responses to Terrorism*
(مانچستر: د مانچستر د پوهنتون مطبعه، 2019).

ځوابونه به په یوه خپروونه کې وکارول شي، چې ډول یې مشخص شوی نه و. ټولې مصاحبې ناپېژانده دي او ټول هغه اطلاعات چې د مصاحبه کېدونکو د پېژندني لامل کرځي ایستل شوي دي. دا خطر چې ځواب ورکوونکي دې وکولای شي له خپلو مصاحبو څخه د نفوذ یا د ناسمو واقعیتونو وړاندې کولو لپاره کار واخلي، له لومړي سره د یوه احتیاطي اقدام په توګه په پام کې ونیول شو. دغه خطر د بېلابېلو ډولونو سرچینو په کارولو، د متضادو نظرونو په وړاندې کولو، له خلکو سره د بېلو مصاحبو په تر سره کولو پرته له دې چې هغوی له نورو مصاحبو خبر وي او د هغو پوښتنو په راوستلو سره چې ځواب یې له وړاندې نه مشخص و، را کم شو. د مصاحبه کېدونکو د اعتبار د کتنې لپاره د شتون په صورت کې عمومي سرچینې هم کارول شوي دي.

دا مقاله په پنځو برخو کې تنظیم شوې ده. لومړۍ برخه په لنډه توګه سره په 2021 کال کې د رژیم له بدلیدو وړاندې په پوهنتونونو کې د IS-K ډلې فعالیتونو په اړه بحث کوي. وروستی برخه د رژیم له بدلون وروسته د 2022 کال تر منې پورې یعني کله چې د همدې مقالې څېړنې بشپړې شوې وې، د IS-K ډلې فعالیتونه تر بحث لاندې نیسي. درېیمه برخه په پوهنتونونو کې له ترهګرۍ سره د مبارزې په اړه د طالبانو هلوځلو ته ځانګړې شوې ده، چې په څلورمه برخه کې بیا د طالبانو د سرټکونې پر وړاندې د IS-K ډلې د انطباق د څرنګوالي او د افغانستان په پوهنتونونو کې د طالبانو له خوا پر رامنځته شوو خنډونو باندې د برلاسه کېدو په اړه د IS-K ډلې لیدلوري راغلي دي.

## د 2021 کال د اګست میاشت له 15 وړاندې په پوهنتونونو کې د IS-K ډلې فعالیتونه

د IS-K له خوا د افغان پوهنتونونو د محصلینو جذب د 2021 کال د اګست میاشت کې د طالبانو منګولو ته د کابل له لویدلو وړاندې یو ثابت واقعیت و. په 2015 کال کې، رپوټ ورکړل شوی و چې لږ تر لږه دوو محصلینو په رضاکارانه توګه په سوریه کې له IS سره د جګړې لپاره حاضر شوي وو. یو یې د کمپیوټر ساینس محصل و چې ویل کېږي د کابل پوهنتون د اسلامي کلتور په یوه کورس کې د ګډون له امله سخت دریځی شوی و. وروسته بیا په 2018 کال کې، د اقتصاد په پوهنځي کې ځینې محصلین د پخواني رژیم د امنیتي ادارو له خوا نیول شوي وو.[7] په 2019 کال کې د ملي امنیت عمومي ریاست د شریعاتو د پوهنځي دری ښوونکي او دوه پخواني زده کوونکي IS-K ډلې ته د خلکو د جذب په تور نیولي وو. د یوه پخواني محصل اعترافونه ښیي چې ښوونکي لومړی هڅه کوي چې محصلین د سلفیت پر خوا ور جذب کړي او کله چې خپلې دې موخې ته ورسېدل نو بیا هغوی د IS-K ډلې ته ور جذبوي.[8] IS-K له ډېر پخوا نه د کابل پوهنتون د شریعاتو له پوهنځي څخه کسان جذبوي.[9] دا ډول جذب او استخدام په افغانستان کې د پوهنتون د زده کړو د ضعیفه کیفیت له مخې لا پسې اسانه شوی دی.

> په کابل کې مېشت څېړونکي رامین کمانګر وویل چې له تاریخي اړخه زیاتره افراطي ډلې په افغان ټولنه کې ژورې ریښې لري. اکاډمیک یا د پوهنتون تحصیلي نصاب داسې طراحي شوی و چې هرې ډلې کولای شول چې د پوهنتون درسي کتابونه له هغې ډلې د شریعت د قانون درسي کتابونه چې په ټول هېواد کې د هر پوهنځي لپاره جبري درسونه دي، لاسوهی په کې وکړي. کمانګر وویل، «د اسلامي قانون درسي کتابونه علمي بنه نه لري». د کمانګر په وینا، «دا کتابونه دا وایي چې اسلام تر ټولو غوره دین دی او د تور او سپین ایدیالوژۍ په بنه خبرې کوي». [10]

---

7. عزت الله مهرداد، «اسلامي دولت څرنګه کابل پوهنتون کې نفوذ وکړ»، *The Diplomat*، د 2019 کال د اګست 12.
8. *Ibid.*
9. عثمان، *بورژوازي جهاد*، 11 مخ.
10. مهرداد، «اسلامي دولت څرنګه کابل پوهنتون کې نفوذ وکړ».

پخواني رژيم هېڅکله د IS-K پلوه روحانيون (*علماء*) او ښوونکي له دې امله تر جدي فشار لاندې و نه نيول چې هغوی يې د سلفي *علماوو* د ټولنې د جدي غبرګون د ډار له امله د طالبانو پر وړاندې ګټور متحدين بلل.[11]

ان په 2020 کال کې، څېړونکي برهان عثمان دا موندلې وه چې د کابل پوهنتون، ننګرهار پوهنتون او البيروني پوهنتون (يو خصوصي پوهنتون) د IS-K د استخدام سترې سرچينې وي. د IS-K د کابل د اصلي برخې مشر په حقيقت کې د ګلبهار د البيروني پوهنتون فارغ و، د ګلبهار ښارګوټی د پروان او کاپيسا ولايتونو تر منځ پروت دی. د دولتي پوهنتونونو ليليې د IS-K د فعاليتونو اصلي مرکزونه و، تر دې بريده چې چارواکو نورو محصلينو ته د هغوی لاسرسی محدود کړی و.[12] د کابل پوهنتون يوه اداري غړي دا ومنله چې په پخواني رژيم کې (2001-21)، د کابل په ليليو کې د تاوتريخجنو افراطي ډلو له خوا استخدام ډېر عام و.[13] عثمان دا هم موندلې وه چې IS-K په کابل کې زياتره په تاجيکانو کې خپل غړي استخداموي، معمولاً د جمعيت اسلامي له پخوانيو سنګرونو څخه، چې په اصل کې يو منځلارې مسلمان اخوان سازمان و چې په 1980 لسيزه کې يې د «جهاد خيال په سر کې لاره» خو وروسته په دې خاطر چې په 1990 لسيزه کې يې اسلامي رژيم رامنځته نه شوای کړای نو د IS-K له ګوتنيونو سره مخ شو.[14] معمولاً، استخدام کېدونکي کسان لومړی د سلفي فعاليتونو له لارې او/يا له نا تاوتريخجنو ډلو لکه اسلام پلوه حزب التحرير (Hizb ut-Tahrir (HuT)) او د محصلينو له مليشه اي سازمان جمعيت اصلاح سره د يو ځای کېدو له لارې يو ځای کېدل.[15] په همدې دوره کې په کابل کې په يوه خصوصي پوهنتون کې له IS-K سره خواخوږې د ښځينه سلفي جهادي فعالانو يوه ډله هم پېژندل شوې وه.[16]

## د طالبانو له واک ته رسېدو نه وروسته د افغانستان په پوهنتونونو کې د IS-K فعاليتونه

ان وړاندې تر دې چې طالبان واک ته ورسېږي، په پوهنتونونو کې د سلفي او حنفي محصلينو تر منځ تاوتريخوالی لوړ شوی و او د هغوی تر منځ فزيکي شخړې کومه غيرعادي خبره نه وه. د رژيم له د بدليدو وروسته، طالبانو سلفي فعاليتونه محدود کړل، په پايله کې حنفي محصلين لا پسې وهڅېدل تر څو خپل ځان زړور احساس کړي او د سلفيانو په ځورولو پيل وکړي او سلفي محصلين هم زياتره مجبور وو چې له غبرګون ښودلو مخنيوی وکړي او د پام را اړولو نه پرته خپل فعاليت ته ادامه ورکړي. د سلفي محصلينو يو شمېر وګړو يې بيا له حنفيانو سره خپلو شخړو ته ادامه ورکړه او دا موضوع د دې لامل شوه تر څو د IS-K پام هغوی ته ور واوړي، ځکه چې دا ډله په مشخصه توګه هغو سلفي محصلينو ته لېوالتيا لري چې پوځي شخصيت لري. داسې رپوټونه شته چې لا اوس هم د پوهنتون څو کارکوونکي او محصلين په په فعاله توګه د سلفيت د مبلغينو او دعوت کوونکو په توګه کار کوي.[17] کله چې اسلامي

11. عثمان، *بورژوازي جهاد*، 8 مخ.
12. عثمان، *بورژوازي جهاد*، 9، 11 مخونه؛ همداشان وويني Casey Garret Johnson، *په افغانستان کې د اسلامي دولت ظهور او ځاله (The Rise and Stall of the Islamic State in Afghanistan)* (واشنګټن، DC: د سولې لپاره د متحده ایالاتو انستیتوت (United States Institute for Peace) 2016)، 7 مخ.
13. د پوهنتون له اداري غړي سره مصاحبه، کابل پوهنتون، اکتوبر 2022.
14. عثمان، *بورژوازي جهاد*، مخونه 12، 15، 20.
15. *Ibid*، پاڼه 13. په افغانستان کې د حزب التحرير او جمعيت اصلاح په اړه د معلوماتو لپاره، وويني: Antonio Giustozzi، ‘Between Patronage and Rebellion’ Student Politics in Afghanistan’، AREU، Briefing Paper، فبروري 2010.
16. عثمان، *بورژوازي جهاد*، 14 مخ.
17. ننګرهار پوهنتون کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، نومبر 2022.

جمهوريت بې ثباته کېده نو له غير سخت دريځو افراطي ډلو په تېره بيا له حزب التحرير او جمعيت اصلاح سره د پوهنتون د محصلينو تر منځ لېوالتيا پراخېده.[18]

## د IS-K لپاره د محصلينو اهميت

د IS-K سرچيني په وياړ سره د پوهنتونونو د محصلينو څخه د استخدام خپلو هلوځلو باندې اعتراف کوي. د يوه قومندان په خبره:

> د پوهنتون دغه محصلين چې موږ هغوی د «باخبره» غړو په توګه بولو، د ټولنيزو رسنيو له لارې د جنګياليو او نورو غړو د استخدام په برخه کې ډېر ښه دي، ځکه چې هغوی له اسلام نه پوره خبراوی لري او په افغانستان کې له جهاد سره د يو ځای کېدو په برخه کې نورو خلکو ته ډېر ښه قناعت ورکوي. موږ د محصلينو په استخدام کې ډېر ښه يو.[19]

دا د IS-K د تحصيل يافته غړو د ارزښت په اړه د يوې بيانيې په توګه مهمه ده. يوه بل قومندان بيا د IS-K معمول شعار بيان کړ: «يو باخبره قومندان يا جنګيالی له 100 بې لوستو جنګياليو نه غوره ده».[20] دغه ايډيالوژيک غړي د IS-K د ملا تېر جوړوي، ځکه چې هغوی په ډېره ښه توګه سره کولای شي نور غړي «د اسلام په ګټه او د کفارو او هغو کسانو پر وړاندې چې د واک لپاره د جهاد او اسلام له نوم نه ګټه اخلي لکه طالبان» جګړې ته وهڅوي.[21] مصاحبو ښوده چې د استخدام تمرکز لا اوس هم د شرعياتو پر پوهنځي باندې ده، خو هڅه کېږي چې د نورو پوهنځيو محصلين هم چې له خپله ځانه پياوړي ديني علايق ښيي، استخدام شي، ان که چېرې هغوی سلفي هم نه وي.[22]

د طالبانو د استخباراتو د ادارې، GDI نه يوې سرچينې د 2021 کال په نومبر کې ومنله چې IS-K په کابل پوهنتون په تېره بيا د شرعياتو پوهنځي کې د استخدام هلې ځلې را ټولې کړي دي، ځکه چې له کلونو راهيسې هلته د استخدام جريان لري. هغه مهال کابل پوهنتون تړلی و، خو استخباراتي سرچينو رپوټ ورکړی و چې IS-K د پوهنتونونو له پيليدو وړاندې خپلو ټيمونو ته امر کړی و تر څو د استخدام خپل فعاليتونه له سره پيل کړي.[23]

## په پوهنتونونو کې د IS-K جاسوسان

د افغانستان د لوړو زده کړو په سکتور کې دولتي پوهنتونونه (39 پوهنتونونه تر 2020 کال پورې) او خصوصي (تر 145 پوهنتونونو پورې) وو او په 2020 کال کې د 400,000 محصلينو په شمېر کې په درسونو کې بوخت وو، چې شاوخوا يوه پر دريېمه برخه يې په خصوصي پوهنتونونو کې وو. ان وړاندې تر دې چې لوړو زده کړو ته د 2022 کال په ډيسمبر کې د ښځو پر ورتګ بنديز ولګول شي، ويل کېږي چې پورتني شمېرې د طالبانو له واک ته رسېدو وروسته کم شوي دي. که څه هم دولتي پوهنتونونه وړيا دي، خو پوهنتون ته د ورتلو ازموينه (کانکور) د ډېرو لپاره

18. شهير سيرت او رامين کمانګر، 'په پوهنتون کې د فعالو جريانونو ډول پېژندنه ['Typology of Active Tendencies in the Universities']، د افغان د ستراتيژيکو مطالعاتو انستيتوت، 2021.
19. په نورستان کې د IS-K له قومندان سره مصاحبه، جون 2022.
20. په کنړ کې د IS-K له قومندان سره مصاحبه، جون 2022.
21. *Ibid*.
22. په کابل کې د IS-K له استخداموونکي سره مصاحبه د 2022 کال د نومبر 2.
23. په کابل کې د GDI له غړي سره مصاحبه، نومبر 2021.

يو خنډ دی تر څو لوړو زده کړو کې شامل شي. برعکس، خصوصي پوهنتونونه بيا يوازې د بډايه کورنيو لپاره لاسرسي وړ دي.[24]

د GDI اداري د 2021 کال په وروستيو کې پر دې اند و چې په کابل پوهنتون کې د IS-K وړې ډلې شته او ځينې ښوونکي هم له IS-K سره اړيکې لري. هغوی همداشان باور درلود چې IS-K د کابل په ځينو خصوصي پوهنتونونو کې هم شتون لري او د IS-K د استخدام د بهير درول يې تر ټولو مهم لومړيتوب ګڼله.[25] د GDI يوې بلې سرچينې بيا وويل چې هغوی په کابل پوهنتون او البيروني پوهنتون کې د IS-K درې فعاله شبکې پېژندلې دي. هغه مهال يوازې خصوصي پوهنتتونونه پرانيستي و او GDI پر هغو باندې خپلې څارنيزې هلې ځلې را ټولې کړې وې. د ادعاګانو له مخې، د کابل پوهنتون شبکې د شرعياتو پوهنځي د ښوونکو له خوا رهبري کېږي او په ټولنيزو رسنيو کې د همدې شبکو د فعالو غړو له خوا يې ملاتړ کېږي.[26]

د 2022 کال په نيمايي کې، د IS-K سرچينو په کابل او ګلبهار کې خپل فعال شتون منلی و او اضافه کړې يې وه چې د ننګرهار پوهنتون او بدخشان پوهنتون د دوی د استخدام نور مرکزونه وو.[27] د يادونې وړ ده چې د همدې رپوټ او لکه څرنګه چې مخکې يې يادوونه وشوه د عثمان د موندنو تر منځ د بدخشان پوهنتون په اضافه کېدو سره د پام وړ ګډ ټکي شته. د IS-K يوه استخدام کوونکي يو ځل بيا د 2022 کال په نومبر کې ومنله چې IS-K لا اوس هم په ننګرهار پوهنتون کې زيات شمېر همفکره ملګري لري، که څه هم هغوی اوس مجبور دي د دې لپاره چې و نه پېژندل شي له فعاليت نه ډډه کوي. په حقيقت کې IS-K په هغه وخت کې د ننګرهار پوهنتون د محصلينو د استخدام په برخه کې يو له اصلي ځايونو څخه باله. د همدې سرچينې له مخې، په دغه پوهنتون کې د IS-K ګڼ شمېر وړو استخدام کوونکو ډلو شتون درلود، چې هر يوه يې درې غړي درلودل.[28] د هغوی اندازې ته په کتو سره، داسې ښکاري چې کابل پوهنتون (چې د محصلينو د شمېر له مخې، درې ځله تر ننګرهار پوهنتون ستر دی) ډېر کم اغېزمن شوی وي: د رپوټونو له مخې، د IS-K له شپږ وړو ډلو نه يې د هرې ډلې له دوو تر دريو پورې غړي په کابل پوهنتون کې شتون درلود او زياترو يې په شرعياتو پوهنځي کې فعاليت درلود.[29]

که څه هم ښايي د موقعيت له مخې ځينې توپيرونه شتون ولري، خو په ښکاره توګه په پوهنتونونو کې د IS-K جوړښت په لاندې مشخصو برخو کې تنظيم شوي دي: «هدف نيول»، «رسنۍ او کلتور»، «چټ او دعوت کول» او «مخامخ اړيکې». د شمېر له مخې د «هدف نيول» برخه زيات شمېر کسان لري. زياتره دا وړې ډلې د شرعياتو او حقوقو په پوهنځيو کې فعاليت لري.[30]

## د IS-K د استخدام تکنيکونه

د IS-K د سرچينو د ويناوو له مخې، «هدف نيول» په اصل کې يو استخباراتی فعاليت ده او موخه يې د بالقوه استخدام کېدونکو پېژندنه ده. د هدف نيول شوي موخه داسې تشريح شوې ده، «د تر ټولو مذهبي محصل بېلول او هدف نيول

---

24. اسدالله جاويد، ‘Private Higher Education in Afghanistan: An Overview’، په Uwe H Bittlingmayer et al. (eds)، *Education and Development in Afghanistan: Challenges and Prospects*، (Bielefeld: Transcript, 2019)، مخونه 175-91؛ عبدالعزيز محبي او نواح کوبرن، ‘Higher Education in Taliban-Ruled Afghanistan: Threatened But Not Gone’، *The Diplomat*، د 2022 کال د اګسټ 9.
25. د کابل په مرکز کې د GDI له غړي سره مصاحبه، نومبر 2021.
26. د کابل په لويديځ کې د GDI له غړي سره مصاحبه، نومبر 2021.
27. په نورستان کې د IS-K له قومندان سره مصاحبه، جون 2022.
28. په ننګرهار پوهنتون کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، نومبر 2022.
29. په کابل پوهنتون کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، نومبر 2022.
30. په ننګرهار پوهنتون کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، نومبر 2022.

چې ديني مسايلو په تېره بيا سلفيت ته زياته لېوالتيا لري».[31] په دغه کټګوري کې، هدف نيوونکي هغو محصلينو ته لومړيتوب ورکوي چې د سرچينې له مخې «د حنفي افراطي محصلينو» له خوا له زياتو ستونزو سره مخ دي، يا هغه چې کورنۍ يې د طالبانو له خوا د IS د سرټکوونکو فعاليتونو په درشل کې نيول شوي دي. په معمول ډول، له يوې ټولګې نه چې 40 تر 50 محصلين لري، يوازې يو يا دوه يې د هدف نيول کېدو ارزښت لري.[32] وروسته له هغه چې هدف نيول شوی محصل په ګوته شو، نو د هدف نيولو جوړښت هڅه کوي تر څو د هغه د موبايل شمېره تر لاسه کړي. وروسته له هغې، د «رسنۍ او کلتور» د برخې کار پيلېږي. د رسنۍ او کلتور د ټيم دنده چې له پوهنتون نه بهر او ان کله له هېواد نه لري په اروپا کې مېشت دي، دا ده تر څو د «طالبانو له خوا د سلفي علماوو، سلفي وګړو، ښځو او ماشومانو باندې د ظلمونو، وژنو، شکنجې او نيوونې» اړوند استخدام کېدونکي ويډيوګانې، د سلفيت اړوند پيغامونه، له امريکايانو سره د طالبانو د مذاکراتو په اړه ويډيوګانې او خبرونه استخدام کېدونکو ته لېږي. په 2021 کال کې د رژيم له بدلېدو وروسته، په تبليغاتي موادو کې «د بهرنيانو له خوا د مسلمانانو بمبارد» او «د امريکايانو له خوا د مسلمان نارينه، ښځينه او ماشومانو شکنجه او نيول» شامل و. کله چې کوم منفي غبرګون تر لاسه شي، نو «دعوت شوی» محصل د پيغامونو له کړۍ نه لېرې کېږي. خو که د محصل غبرګون مثبت و، نو د واټساپ او نورو ټولنيزو رسنيو کارول پيلېږي. د رسنۍ او کلتور ټيم همداشان هدف نيول شوی محصل د IS-K بېلابېلو ټيليګرامي حسابونو کې اضافه کوي هغه حسابونه چې ځينې يې د IS-K فعاليتونه تبليغوي او ځينې نور يې بيا د طالبانو پر وړاندې منفي تبليغات خپروي.[33]

په وروستي پړاو کې، وروسته له هغه چې د «رسنۍ او کلتور» برخه خپل کار پای ته ورسوي او محصل يې چمتو کړ، نو د «چټ او دعوت» ټيم کار ته ادامه ورکوي، ورسره يو-په-يو چټ روم په ټيليګرام يا واټساپ کې پرانيزي او له خپلو کادرونو څخه غواړي چې له مشخصو کسانو سره ملګري شي. دا يو-په-يو چټونه په افغانستان کې د سلفيانو پر شرايطو، د سلفيانو پر وړاندې د طالبانو پر «ظلمونو»، په پوهنتونونو کې د حنفي محصلينو او طالبانو له خوا د سلفي محصلينو پر ځورونې، پر «جهاد» او د IS-K پر فعاليتونو او موخو او د اسلامي دولت پر «خلافت» او همداشان نورو مسايلو باندې را ټول وي. د همدې پړاو په درشل کې، استخدام کوونکی په منظم ډول د پوهنتون په چاپېريال او له هغه نه بهر له هدف سره ليده کاته کوي، تر څو د هغه د ليدلوري او نظرياتو په اړه لا زيات وپوهېږي، اعتماد رامنځته کوي او له يوه بل سره ملګري کېږي. راتلونکو استخدام کېدونکو ته يا په مستقيمه توګه معلومات ورکول کېږي يا ترې غوښتل کېږي چې د سلفي پېژندلو شوو مبلغينو په سلګونو ويناوې او درسونه واوري و ولولي، د بېلګې په توګه:

> د IS-K د رسنيو او کلتور ټيم تر هدف لاندې محصلين د ټيليګرام په حسابونو کې اضافه کوي، کوم چې د طالبانو پر وړاندې منفي تبليغات خپروي.

- د کابل پوهنتون د شرعياتو د پوهنځي ښوونکی، شيخ ابو عبيدالله متوکل، چې د IS-K د استخدام کوونکي په توګه د افغانستان د اسلامي جمهوريت له خوا ونيول شو او بيا وروسته واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته د 2021 کال په سپټمبر کې له تښتول کېدو وروسته ووژل شو.
- مبشر مسلميار چې د کابل پوهنتون د شرعياتو د پوهنځي يو بل ښوونکی و، هغه هم د 2021 کال د فبروري په مياشت کې په کابل کې ووژل شو.

31. په کابل کې د IS-K له استخداموونکي سره مصاحبه د 2022 کال د نومبر 2.
32. د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، کابل پوهنتون، نومبر 2022؛ په ننګرهار پوهنتون کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، نومبر 2022؛ په کابل 2 کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، نومبر 2022.
33. د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، ننګرهار پوهنتون، نومبر 2022؛ په کابل 2 کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، د 2022 نومبر 2؛ په کابل پوهنتون کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، نومبر 2022.

- معروف راسخ د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي دربېم غړی، چې د اسلامي جمهوریت پر مهال نیول شوی او بېرته ازاد شوی و، د 2021 کال د فبروري په میاشت کې ووژل شو.
- عبدالظاهر داعي، د کابل پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي یو بل غړی او د همدې ډلې یوازینی غړی لا اوس هم ژوندی او فعال دی. هغه هم د اسلامي جمهوریت پر مهال نیول شوی و.

وروسته له هغه چې تر هدف لاندې محصل د مبلغ د فکر له ډول سره بلد شو، نو استخدام کوونکی هغه ته بلنه ورکوي تر څو سلفیت ته واوړي او که چېرې محصل له پخوا نه سلفي وي، بیا نو یو ډېر سخت چلند ورته غوروي. که چېرې دا بهیر په ښه توګه سره مخ ته ولاړ شي، نو بیا هدف ته بلنه ورکول کېږي چې په ازاده توګه په ټیلیګرام کې د IS-K پلوه خصوصي چټ رومونو سره یو ځای شي. ځیني استخدام کېدونکي په همدې پړاو کې چمتو وي چې د IS-K لپاره داوطلب شي، خو ځیني نور ښایي لږ ډېر کار ته اړتیا ولري. که چېرې هدف لا تر اوسه پوره چمتو نه وي، نو د IS-K په خصوصي کانالونو کې د هغه غبرګونونه د څو ورځو لپاره تر څارنې لاندې نیول کېږي. که یې چېرې غبرګون مثبت وي، نو بیا هدف ته بلنه ورکول کېږي چې د طالبانو او هر هغه کس پر وړاندې چې د سلفیت او خلافت مخالف وي، پر وړاندې له جهاد سره یو ځای شي.

وړاندې تر دې چې له IS-K سره د یو ځای کېدو بلنه ورکړل شي، استخدام کېدونکو ته بلنه ورکول کېږي چې سلفیت ومني او که چېرې له وړاندې نه سلفي وي، بیا نو له هغه څخه د تر ټولو سختې پیروۍ پیلولو غوښتنه کوي. له څه مودې وروسته، تر هدف لاندې محصلینو ته بلنه ورکول کېږي چې د طالبانو او هر هغه کس چې د سلفیت او خلافت مخالف وي، پر وړاندې له جهاد سره یو ځای شي. که یې چېرې بلنه ومنل شوه، نو هدف ته د یوې مخامخ ناستې غوښتنه ورکول کېږي. دا هغه مهال ده چې د «مخامخ» ټیم بهیر په لاس کې اخلي. له دې نه لږ مهال وروسته، دا ټیم راتلونکي استخدام کېدونکي کس ته د IS-K په یوه کمپ کې د روزنې وړاندیز ورکول کېږي تر څو د یوه غړي په توګه د یو ځای کېدو لپاره بشپړ تیاری ونیسي.[34] دا ټول بهیر تر دریو میاشتو پورې وخت نیسي.[35]

زیاتره هغه خلک چې د
IS-K د تبلیغاتو پړاو ته
رسیږي نو له یو ځای کېدو
سره هوکړه کوي

زیاتره خو نه ټول هغه خلک چې د IS-K د تبلیغاتو پړاو ته رسیږي نو له یو ځای کېدو سره هوکړه کوي. دا چې تر دې ځایه پورې له بالقوه استخدام کېدونکي سره یوازې د ټولنیزو رسنیو له لارې اړیکه نیول شوې وي، نو هغوی IS-K ته یوازې محدود خطر اړولی شي: یوازینی کار چې هغوی یې کولای شي هغه دا ده چې چارواکو ته ووایي چې څه جریان لري، خو بیا هم هېڅ نه شي کولای چې کوم کس له خطر سره مخ کړي. له پوهنتون څخه استخدام شوي زیاتره کسان له جګړه مار اوسېدو سره هېڅ لېوالتیا نه لري، ان که له دې ډلې سره یو ځای هم شي.[36] له همدې امله، هغوی ته په یوه ترهګریزه ډله کې د نورو دندو تر منځ د مرستندوی، د ټولنیزې رسنۍ فعال، مبلغ/روزونکي، د لوجیستیکي برخې د پرمخ وړونکي یا د امن د کورونو د پالونکي دندې وړاندیز کېږي. ځیني یې د وړو ترهګریزو دلو مشران کېږي.[37]

34. په کابل پوهنتون کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، نومبر 2022؛ په کابل کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه د 2022 کال د نومبر 2.
35. د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، ننګرهار پوهنتون، نومبر 2022؛ په کابل کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، 2022 نومبر 2؛ په کابل 2 کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، نومبر 2022.
36. په کابل کې د IS-K له استخداموونکي سره مصاحبه د 2022 کال د نومبر 2.
37. په کابل پوهنتون کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، نومبر 2022؛ په کابل کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه د 2022 کال د نومبر 2.

# له ترهګرۍ سره د طالبانو مبارزه

## له تګلارې او اصولو څخه په کارکړنه کې انحراف

کله چې د 2021 کال په اګسټ کې طالبانو کابل ونیو نو سمدلاسه دولتي پوهنتونونه وتړل شول. طالبانو اعلان وکړ چې غواړي د هغو له بیا پرانیستل کېدو وړاندې په پوهنتون کې د جنسیتي بېلوالي د څرنګوالي په اړه تصمیم ونیسي. په ورته وخت کې، طالبانو د سیاست، بشر حقونو او اسلام په اړه هر ډول خبرې اترې ممنوع اعلان کړې. کله چې د 2022 کال په فبروري کې پوهنتونونه بېرته پیل شول، طالبان پوهېدل چې هغوی په پوهنتونونو کې له ستونزو سره مخ دي، ځکه چې د یوه غورځنګ په توګه هغوی د پوهنتون د محصلینو لپاره ډېر کم جذابیت درلود او د سیکولار زده کړو د مخالفې ډلې په توګه پېژندل کېدل.

په پوهنتونونو کې د IS-K د شتون په تړاو د هغوی کارکړنه باید له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې د اسلامي امارت د یوې ستړې کارکړنې په چوکاټ کې وڅېړل شي. په ښکاره توګه طالبانو له ترهګرۍ سره د مبارزې په اړه تر اوسه پورې کومه مشخصه یا ښکاره تګلاره نه ده تدوین کړې. پخواني حکومت، د افغانستان اسلامي جمهوریت، په دې اړه ځینې تګلارې تدوین کړې وې، خو هغه یې په سیستماتیکه توګه پلي نه کړې. دغه تګلارې له ترهګرۍ سره د مبارزې د «لویدیځ» مفاهیمو له مخې ترتیب شوې وې چې له هغې ډلې د قانون حاکمیت او بشري حقونه په تیورۍ کې د همدغو تګلارو لازمي برخې وې-خو له دې حقیقت سره سره افغان امنیتي ځواکونو او لویدیځ فعالانو په عمل کې دغو عناصرو ته هېڅ درناوی نه درلود. په حقیقت کې، د اسلامي جمهوریت ځواکونو تر یوه ډېره بریده پورې د همدې تګلارو په اړه شک درلود. [38] د همدې ځواکونو نیووکې چې لاندې راغلي دي، له یوې ټولګې هغو مصاحبو څخه را اخیستل شوي دي چې د جمهوریت د کلونو په درشل کې له 21-2015 پورې د افغانستان د قانون د تنفیذ له چارواکو سره تر سره شوې دي:

1. د قانون ټینګښت له ترهګرۍ سره د مبارزې هڅه ورو کړه او ارزښتناکه وخت یې ضایع کړ.
2. د قانون ټینګښت، چې په کې د شواهدو لوړ معیارونه اړین دي، مجرم ګرځول ډېر زیات ستونزمن کوي.
3. په ترهګریزو بېړنیو حالاتو کې، د اړوند مجرب پرسونل موندل لکه د پولیسو افسران چې کافي زده کړې یې تر لاسه کړې دي یوه ډېره نادره خبره وه او د دې لپاره چې د یوه تورن جرم ثابت شي د کافي شواهدو راټولول یې ډېر سخت کار وي؛ دا چاره په افغانستان کې هم د پلي کېدو وړ وه او د مسلکي پرسونل موندل ان د بغاوت له پیلیدو وړاندې هم یوه ستونزمنه موضوع وه.
4. د استنطاق په درشل کې شکنجه او فزیکي فشار چټکه پایله ورکوي.
5. هغه ترهګر چې ډېره لوړه انګېزه لري په اسانۍ سره له عادي ګواښونو لکه توقیف او بندي کېدو څخه نه اغېزمن کېږي او د همکارۍ لپاره هغوی ته قناعت ورکول پرته له شدیدو ډول فشارونو ورکړې نه شوني نه ده.
6. له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې، د رسنیو ازادي هېڅ مرسته نه کوي، ځکه هغوی د ترهګرو لاسته راوړني تبلیغوي او د دولتي ادارو د ناکامیو او/یا بې رحمه کړو وړو په ښکارولو سره، هغوی لا له خجالت سره مخ کوي.
7. ملکي ملاتړي د بغاوتګرو او ترهګرو اصلي شتمني ده او له هغوی سره هم سخت چلند کېږي.[39]

38. Antonio Giustozzi، ‘ANDSF Views on Security Force Assistance in Afghanistan’، ناچاپه مقاله، 2021.
39. *Ibid*.

لکه څرنګه چې لاندې هم پرې بحث شوی دی، که څه هم طالبان له قصده نه غواړي چې د پخواني رژیم په څېر له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې پر لویدیځ میتود باندې ګوتنیونه وکړي، خو پرته له دې چې هغوی د شریعت له مخې چې یو ډول د قانون ټینګښت دی فعالیت کوي، په زیاترو حالاتو کې یې د پخواني حکومت ورته میتودونه په بېلابېلو درجو له ځانه ښودلي او هغه یې (څه په انفرادي یا سازماني بڼه) په خپلو کړو وړو کې واک ته له رسېدو وروسته عملي کړي دي. د پورتنیو فرضیاتو له مخې له ترهګرۍ سره د مبارزې د دا ډول میتودونو منل، کولای شي د دې پایله واوسي چې هغوی په خپله د دې ډول میتودونو تر لاسه کوونکي وو؛ دا چې له ترهګرۍ سره د اغېزمنې مبارزې په اړه د یوه ګډ کلتوري درک لرل؛ یا یو شمېر نورو دلایلو له مخې. له ترهګرۍ سره د مبارزې په اړه د طالبانو د کارکړنې د کلتوري او سیاسي سرچینو تشخیص د همدې مقالې د څېړنې له حد نه پورته خبره ده. هغه څه چې درک یې دلته مهم ده هغه په انفرادي او سازماني کچه کې د ځینو مشخصو کړو وړو شتون دی – لکه د اسلامي جمهوریت پر مهال چې و – چې له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې یې د طالبانو پر امارت باندې اغېز کړی دی.

د قانون د ټینګښت په اړه (پورتني یاد شوي 1، 2 او 3 ټکي)، که څه هم طالبان په اصولو کې د قانون د ټینګښت د نسخې په راپېژندنه کې د شریعت له مخې ژمن دي، خو کله چې خبره د دیني متنونو له خوا یاغیانو په تېره بیا IS-K غړو ته د وړاندې شوې خوندیتابه په اړه کېږي، نو دوی محتاطانه چلند تر سره کوي. څه د یوې قصدي تګلارې په پایله کې یا هم د طالبانو تر کنټرول لاندې رسنیو کې د نا کنټرول شویو ادبیاتو له امله چې د غوړېدا په حال کې ده، د 'Kharijites' (*خوارج*) اصطلاح،[40] چې د یوه افراطي او ان مرتد کارکړنې په مفهوم ده، معمولاً IS-K ته په اشارې سره کارول کېږي. دا سپکاوی کوونکې اصطلاح زیاتره د اسلام پالو یاغیانو له لاسه اغېزمن شوو هېوادونو د دولتونو له خوا کارول کېږي، تر څو د همدې فتنه ګرو عناصرو پر وړاندې د خپلو جدي ګامونو په تکیې سره، چې په اصل کې د مرتد او سرټکونې وړ کسانو په توګه ګڼل کېږي، توجیه کړای شي.[41] پرته له شکه، د داسې اصلاح کارول به یوازې له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې د طالبانو چارواکي وهڅوي تر څو هر هغه ډول خنډونه چې په اصل کې د شریعت په قانون کې بنایي موجود واوسي، ترې سترګې پټې کړي.

په حقیقت کې طالبانو د IS-K له جګړه مارو سره د خپل چلند په برخه کې ثابته کارکړنه نه لري، هغوی کله نا کله دغه جګړه ماران او د هغوی شکمنو ملاتړو ته د «خوارج» لقب ورکوي او کله هم د هغوی پر وړاندې له معیاري تعزیراتو څخه کار اخلي، ان ځینې یې هڅه کوي چې ټولنیز مشران د خبرواترو او سیاسي هوکړو له مخې له IS-K څخه بېل او تضعیف کړي.[42] که یوازې د پوهنتون چاپېریال په پام کې ونیسو، نو له متوکل سره د هغوی چلند چې مخکې مو یادوونه وکړه، کېدای شي د هغوی د خپل سر چلند یوه ښه بېلګه واوسي: لکه څرنګه چې مخکې وویل شول، د رپوټونو له مخې متوکل لومړی وتښتول شو او وروسته له هغه د 2021 کال د سپټمبر په میاشت کې د

---

40. د «ترک کوونکو» یا »نفاق اچوونکو» لغت په اصل کې د اوومې پېړۍ یوه اصطلاح ده، چې د همدې پېړۍ په دویمه نیمایي کې یوې فعالې بغاوتګرې ډلې ته اشاره لري.

41. د مصر د چارې په اړه، ووینئ Jeffrey T Kenney، *Muslim Rebels: Kharijites and the Politics of Extremism in Egypt* (اکسفورډ: د اکسفورډ د پوهنتون مطبعه، 2006). په نننۍ عصر کې د همدې لغت د کارولو لپاره، لاندې سرچینې ته مراجعه وکړئ Ibn Masud, 'Salafi's [*sic*] No Longer Part of Sunni Islam'، مؤکد سنت (Sunnah Muakada)، د 2016 اکتوبر 22، <https://sunnahmuakada.wordpress.com/2016/10/22/salafis-no-longer-part-of-sunni-islam/>، د 2023 کال د اپریل په 11 کتل شوی.

42. Bunzel، 'From Paper State to Caliphate'؛ Antonio Giustozzi، 'The Taliban's Homemade Counterinsurgency'، RUSI تفسیر (*RUSI Commentary*)، 4 جنوري 2022.

طالبانو له خوا په خپل سر اعدام شو. که څه هم طالبانو دا مسوولیت و نه مانه، خو د رسنیو له خوا په پراخه کچه سره هغوی د هغه د مړینې مسوول وګڼل شول.[43]

د طالبانو له خوا شکنجې او فزیکي فشار ته (پورتني 4 او 5 ټکي) د نړیوالو سازمانونو په ګڼو رپوټونو کې اشاره شوې ده.[44] دا مورد په هغو مصاحبو کې چې د همدې څېړنې لپاره تر سره شوې، هم تایید شو. د IS-K يوه غړي اشاره وکړه چې هغه وروسته له هغه چې له خپل ښوونکي سره چې له سلفي نظریاتو سره یې جدي او ځېنمانه چلند یې درلود، له دې ډلې سره یو ځای شو. له هغه وروسته، هغه د طالبانو له خوا د دوو ورځو لپاره توقیف، شکنجه او ګواښل شوی و. هغه وروسته له هغه چې ژمنه یې وکړه چې خپله ایډیالوژي به بدلوي، پرېښودل شو او له هغه را وروسته د حنفي محصلینو د ازار او ځورونې سره مخ شو. کله چې IS-K هغه ته مراجعه وکړه، نو هغه استخدام ته چمتو و او د IS-K يو استخدام کوونکی شو. [45]

په کارکړنه کې د طالبانو د بې ثباتۍ یوه بله بېلګه، د رسنیو له رپوټونو سره د هغوی د چلند ډول دی (پورتنی 6 ټکی). که څه هم کله چې د طالبانو دويم امارت پیل شو هغوی خپل ځان په شفاهي بڼه د «رسنیو ازادۍ» ته ژمن وښودل، خو هغوی په پرله پسې ډول سره له تاوتریخجنو پېښو او له ترهګرۍ سره د مبارزې د فعالیتونو په اړه رپوټ ورکول ممنوع اعلان کړل، ځکه چې هغوی پر دې اند دي چې که چېرې د هغوی کړنې (او ورپسې سرټکوونکي اقدامات) د رسنیو له لورې خپاره شي، نو ښايي د IS-K په ګټه پای ته ورسېږي.[46] دا چاره همداشان د پوهنتون له چاپېریال څخه د شکمنو د نیولو په اړه په رپوټ ورکولو باندې هم د تطبیق وړ ده. طالبان نه غواړي چې هلته د هغوی د ظلمونو د کچې په اړه تبلیغ وشي. له بېلابېلو پوهنتونونو څخه ګڼو محصلینو او کارکوونکو (له هغې ډلې هغه 15 کسان چې ورسره اړیکه ونیول شوه) دا احساس یې درلود چې طالبان د محصلینو او کارکوونکو د نیوونې په اړه د معلوماتو له خپرولو څخه ممانعت کاوه. که څه هم، طالبانو ځینې وختونه له رسنیزو وسایلو څخه د «خوارج» په توګه د IS-K د توصیف لپاره ګټه اخیستې ده.[47]

---

43. افغان اسلامي اژانس (Afghan Islamic Press)، «د مولوي متوکل د جنازې لمونځ به د کابل په پغمان کې تر سره شي: (AIP): د رسنیو د رپوټ له مخې، طالبانو یو دیني عالم څو ورځې مخکې په کابل کې ونیو. دا په داسې حال کې ده چې د هغه د مړینې رپوټونه د یکشنبې په ورځ (05 د سپټمبر) تایید شو» [د ټویټر پوسټ]، 1.09 د غرمې په، د 2021 سپټمبر 5، <https://twitter.com/aip_news/status/1434488764403961860>، د *2023 کال د اپریل په 11 دغه پوست ته مراجعه وشوه؛ ابو بکر صدیق، لوړپوړي دیني عالمان د طالبانو او IS-K تر منځ د سختې جګړې له امله بند پاتې دي ('Senior Clerics Caught in the Crossfire of the Taliban's Intensifying War With IS-K')، د اروپا ازاده راډیو ازادی راډیو (Radio Free Europe Radio Liberty)*، د 2022 اګسټ 24، <https://www.rferl.org/a/afghanistan-taliban-islamic-state-khorasan-clerics/32003122.html>، د 2023 کال د اپریل په 11 کتل شوی و.
44. د بشر د حقونو څار (Human Rights Watch)، 'Afghanistan: Taliban Torture Civilians in Panjshir'، د 2022 جون 10؛ بښنې نړیوال سازمان (Amnesty International)، 'Afghanistan: د طالبانو واکمني: A Year of Violence, Impunity and False Promises'، اګسټ 2022؛ د بشر د حقونو خدمات UNAMA (UNAMA Human Rights Service)، «په افغانستان کې د بشر حقونه 15 اګسټ 2021- 15 جون 2022»، جولای 2022، <<https://unama.unmissions.org/un-releases-report-human-rights-afghanistan-taliban-takeover>، د 2023 کال د اپریل په 18 کتل شوی و.
45. په ننګرهار پوهنتون کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، نومبر 2022.
46. Barnett R Rubin، 'Afghanistan Under the Taliban: Findings on the Current Situation'، د سټیمسون مرکز (Stimson Center)، د 2022 اکتوبر 20.
47. د بېلګې په توګه لاندې سرچینې ته مراجعه وکړئ، ابوبکر صدیق، «له IS-K سره د جګړې په شدت موندلو سره، طالبانو د افغان سلفیانو پر وړاندې مرګوني بریدونه پیل کړي دي» ('Taliban Wages Deadly Crackdown on Afghan Salafists as War with IS-K Intensifies')، *ازادی راډیو (Radio Azadi)*، د 2021 اکتوبر 22.

د پورتني 7 نکتې اړوند یو بل مورد – او بیا هم په ښکاره توګه د شریعت خلاف – د راډیکال ډلو پر وړاندې د طالبانو کارکړنه ده، هغه ډلې چې په لویدیځ کې ښایي هغوی د «نامتشدد افراطیانو» په توګه توصیف کړي او طالبان هغوی د « سلفیت ته مایل» یا د «خلافت پلویان» په نوم یادوي. د حزب التحریر، جمیعت اصلاح او نجم[48] په څېر ډلې واک ته د طالبانو د رسېدو په لومړیو وختونو کې ممنوع شوي وي او ځینې ادعا لري چې ان د حزب التحریر غړي توقیف شوي هم دي.[49] که څه هم دا ډلې له IS-K یا مرکزي IS څخه ملاتړ نه کوي، خو داسې ښکاري چې طالبان اندېښمن دي د بېلګې په توګه حزب التحریر په نړیواله کچه د خلافت د بیا رامنځته کېدو لپاره فعالیت کوي او یو نړیوال سازمان دی.[50] لکه څرنګه چې د GDI یوه غړي ویلي: '«هغوی د خلافت د رامنځته کېدو لپاره په ټوله نړۍ کې فعالیت کوي، خو موږ شریعت یوازې د افغانستان لپاره غواړو او نه غواړو د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړو».[51]

دا چې د طالبانو جهاد یوه ملي مسئله ده خو اوس د امارت د بهرني سیاست د هلوځلو په یوه اصلي ادعا باندې بدله شوې ده، که څه هم طالبان لا اوس هم د بهرنیو جهادي ډلو کوربه توب ته ادامه ورکوي لکه د پاکستان TTP (تحریک طالبان پاکستان یا د پاکستاني طالبانو غورځنګ)، القاعده او نور.[52] جمعیت اصلاح ته هم د خپل سلفي نفوذ له امله په شکمنه سترګه کتل کېږي ځکه چې د هغوی ایډیالوژي هم «داعش ته نږدې» (یا IS-K) ته نږدې ده.[53] په تېره بیا په بدخشان پوهنتون (فیض اباد) کې، داسې باور دی چې حزب التحریر – چې د رپوټونو له مخې خورا ډېر مشهور دی – په مستقیم او غیرمستقیمه توګه IS-K ته د خلکو په استخدام کې اسانتیا راولي. که څه هم د البیروني په خصوصي پوهنتون (په ګلبهار) کې یوه محصل ویلي و چې د طالبانو د حاکمیت باوجود حزب التحریر هلته په ازادانه توګه فعالیت ته ادامه ورکړې او دې ډلې د خپل انلاین استخدام فعالیتونه پټ کړي نه دي. هغه همداشان یادوونه کړې وه چې د حزب التحریر له خوا انلاین فعالیت له طالبانو مخکې په پټه تر سره کېده، خو اوس یې هغه لا زیات ازاد په لاره اچولی دی.[54] خو د طالبانو یوې امنیتي سرچینې بیا د دې خبرې په رد سره وویل چې حزب التحریر او جمعیت اصلاح په البیروني کې فعال وو، خو تر اوسه پورې یې د عملیاتو ورتیا نه ده موندلې.[55]

---

48. نجم هغه وړه ډله ده چې له ایډیالوژیکي اړخه د حزب التحریر او جمعیت اصلاح تر منځ ولاړه ده، خو زیاتره تمرکز یې د زده کړې پر برابرولو باندې ده. هغه مدرسې او ښوونځي چلوي. دا د خلافت د بیا رامنځته کېدو ملاتړ کوي.
49. د جمعیت اصلاح له یوه کدر سره مصاحبه، جلال اباد، نومبر 2022. د سرچینې په حواله، طالبانو د جمعیت اصلاح د فعالیتونو بندول په دې خاطر توجیه کړی چې د اسلامي جمهوریت له چارواکو سره یې پخوانی «همکاری» وه او دا چې د امریکایي اشغال پر وړاندې هېڅکله و نه درېدل.
50. د کابل په مرکز کې د GDI له یوه غړي سره مصاحبه، نومبر 2021؛
د کابل په لویدیځ کې د GDI له یوه غړي سره مصاحبه، نومبر 2021.
51. د کابل په مرکز کې د GDI له غړي سره مصاحبه، نومبر 2021.
52. د دویم امارت او همدغو بهرنیو جهادیانو تر منځ د اړیکې لپاره، ووینئ Antonio Giustozzi، 'Al-Qa'ida and the Taliban:Are They on Diverging Paths?'، د *RUSI* ژورنال *(RUSI Journal)* (ټوک 176، ګڼه 4–5، ډیسمبر 2022، پاڼه 12–24)؛ Antonio Giustozzi، 'Taliban Struggles to Balance Relationship with Uzbek Islamist Militants in Afghanistan'، *Jane's Terrorism and Security Monitor*، د 2022 جون 7؛ Antonio Giustozzi، 'Taliban Takes Pragmatic Approach Towards Foreign Islamist Militants in Afghanistan'، *پر ترهګرۍ او امنیت باندې د جین څارنه (Jane's Terrorism and Security Monitor)*، د 21 نومبر 11.
53. د کابل په مرکز کې د GDI له غړي سره مصاحبه، نومبر 2021.
54. د البیروني د خصوصي پوهنتون (ګلبهار)، د پوهنتون له محصل سره مصاحبه، اکتوبر 2022.
55. د طالبانو له امنیتي افسر سره مصاحبه، ګلبهار، اکتوبر 2022.

په هر صورت، د هغو په انلاین تبلیغاتو کې، داسي ښکاري چې حزب التحریر د امارت پر وړاندې د «رغنده انتقاد» لاره نیولې ده او مطمیناً د هغو پر وړاندې کوم له تاوتریخوالي ډک مخالفت ملاتړ نه کوي.[56] په عمومي توګه، داسي ښکاري چې د طالبانو کارکړنه هم له موقعیت تر موقعیت پورې توپیر لري، چې زیاتره په کې د ناتاوتریخجنو افراطي ډلو د غړو تر منځ د عملي توپیر لپاره هلې ځلې هم شاملېږي څوک چې له IS-K سره اړیکه ټینګوي، او هغه چې دا کار نه کوي، ان که د افرادو د اتهام او توقیف لپاره یې د اثبات معیارونه هېڅکله روښانه هم نه وي. د 2022 کال د نومبر په وروستیو کې، طالبانو یو ځل بیا د هغو سازمانونو پر بندښت باندې ټینګار وکړ کوم چې له سلفیت سره په همدردۍ یا د خلافت په پلوي تورن وو او وړاندیز یې وکړ چې دا ممنوعیت به د عامو وګړو په کچه په ډېره کمزورې بڼه سره پلي کېږي.[57]

## اغېز: ګډې پایلې

په پوهنتونونو کې د IS-K د استخدام د درولو له اړخه، طالبان له یوې جدي ننګوونې سره مخ دي چې هم له بشري او هم له مالي تنګلاسۍ سر ټکوي. په تېره بیا د دویم امارت په لومړیو ورځو کې، طالبان د روزل شوو امنیتي او استخباراتي پرسونل له نشتوالي سره مخ و. په عامه توګه د لاسرسي وړ (د 2023 کال تر اپریل میاشت پورې) د امارت په یوازینۍ بودیجه کې چې د 2022 کال په جنوري کې یې خپره کړه، امنیتي لګښتونه شاوخوا د ټولې بودیجې 40% جوړوي چې په 2022 کال کې شاوخوا 800 میلیون امریکایي ډالر کېدل. د امارت له ټولې بودیجې شاوخوا 16% (تر 2022 پورې شاوخوا 320$ میلیون ډالر) په تېره بیا GDI ته ځانګړې شوې وه.[58] دا مبلغ له 2.15 میلیارد ډالرو سره (54% عادي بودیجه) چې په 2021 کال کې د اسلامي جمهوریت د دفاعي او عامه امن او نظم د سکتور لپاره وې، ورسره په میلیونونو هغه نور د متحده ایالاتو ډالر چې مخامخ افغان امنیتي ځواکونو ته ورکول کېدې، په هېڅ صورت د پرتلې وړ نه دي.[59] که څه هم هغه ګوابښونه چې طالبان تر اوسه پورې ورسره مخ دي له هغو ګوابښونو سره چې اسلامي جمهوریت په وروستیو کلونو کې ورسره مخ و، په مراتبو ډېر کم دي، خو یوازې د اسلامي جمهوریت د ملکي خدماتو د کارکوونکو معاشونه دوی ته په میراث پاتې شول چې په 2021 کال کې هره میاشت څه باندې 170 میلیون ډالر و.[60]

---

56. حزب التحریر، < https://www.hizb-ut-tahrir.info/en/index.php/press-releases/ afghanistan.html>، د 2023 کال د اپریل په 11 کتل شوی.

57. *«استخبارات طالبان فعالیت جمعیت اصلاح، حزب التحریر و نهاد نجم را ممنوع اعلام کرد» [«د طالبانو استخباراتو د جمعیت اصلاح، حزب التحریر او نهاد نجم فعالیتونه ممنوع وګرځول»]*، د 8am خبرونه، د 2022 کال د نومبر 28، <https://8am.media/taliban-intelligence-banned-the- activities-of-jamiat-islah-hizb-tahrir-and-nihad-najm/>، د 2023 کال د اپریل په 11 کتل شوی.

58. Kate Clark او Roxanna Shapour، 'What do the Taleban Spend Afghanistan's Money on? Government Expenditure Under the Islamic Emirate'، د افغانستان د تحلیل کوونکو شبکه (Afghanistan Analysts Network)، اقتصاد، پرمختګ، د ژوندانه چاپېریال، مارچ 2023؛ درې میاشتنۍ ملي بودیجه (د 1400 کال جدي، دلو او حوت) ['Quarterly National Budget (IV Quarter 1400)']، د افغانستان د اسلامي امارت، مالیې وزارت، 2022، < https://mof.gov. af/sites/default/files/2022-02/Three%20Months%20 %28Janddi%2CDalwa%2C%20Hout%29National%20Budget%201400.pdf >، د 2023 کال د اپریل په 11 کتل شوی.

59. «د مالي بودیجې لنډیز، لومړی ربع، مالي کال – 1400»، د افغانستان اسلامي جمهوریت، مالیې وزارت، د ستر-مالي وړاندوئینې او رپوټ ورکولو ریاست، د 2021 مې 15.

60. ابراهیم خان، 'What's Next for Afghanistan's Tumultuous Public Finances?'، *ډيپلومات (The Diplomat)*، د 2021 سپټمبر 28.

د همدې مقالو لپاره د تر سره شوو مصاحبو په قضاوت کولو سره، داسې ښکاري چې طالبان د يو لړ ترکيبي شديدو استخباراتي عملياتو په لطف سره چې د هغوی په وينا خوارج او *تفکيريان* («تکفير شوي وګړي»[61]) په پوهنتونونو کې هدف نيسي، په پوهنتون کې سختګيرانه کنټرول او د هر ډول عقيدې د اختلاف پر وړاندې د طالبانو د اغېزناک مخنيوونکو ميتودونو له امله تر يوه زياته بريده پورې هغوی بريالي شوي دي چې د پوهنتون انګړ په داسې يو ځای باندې بدل کړي چې IS-K هلته په سختې سره فعاليت وکړای شي. د پوهنتون محصلين او کارکوونکي ان له IS-K او د طالبانو له نورو مخالفو ډلو سره د هر ډول غيرمستقيم ارتباط له امله تر څېړنو لاندې نيول کېږي. د مخالفو ډلو نه د ملاتړ په تور د مشکوکو کسانو لپاره درنې سزاګانې هم د يوه بل مخنيوونکي اضافي عامل په توګه عمل کوي. که څه هم له هغو 20 کسانو څخه چې ورسره اړيکه ونيول شوه (محصلين، د پوهنتون کارکوونکي، د طالبانو امنيتي افسران) د هغوی يو پر ځلورمه برخه پر دې اند و چې واک ته د طالبانو له رسېدو نه وروسته د افراطي ډلو له خوا استخدام درول شوی نه دی، خو هغه ډله چې تر ټولو زيات د فعالې ډلې په توګه پېژندل شوې ده هغه حزب التحرير و نه IS-K. د هغه څه برخلاف چې د 2021 کال د اګسټ نه وړاندې يې جريان درلود او افراطي ډلې په دې وسې وې چې خپل تبليغات په ليليو کې خپاره کړي، خو په پوهنتونونو کې د IS-K د فعال شتون په اړه شواهد کافي نه و. لکه څرنګه چې مخکې وويل شول، د کابل پوهنتون ليليې پخوا د IS-K د فعاليت د ګرمو ځايونو په توګه پېژندل کېدل. د طالبانو امنيتي ځواکونو په 2021 کې وويل چې د IS-K فعاليتونه د 2021 کال د اګسټ په مياشت کې د رژيم په بدليدو سره د څه وخت لپاره د کابل په پوهنتون کې ادامه درلوده، خو د توقيفونو له پيليدو وروسته هغه هم ودريدل.[62] خو بيا هم ځينې شواهد دا وړانديز کوي چې دا يوه له وخت نه مخکې ارزونه وه. يو کال وروسته، د طالبانو يوه امنيتي کس دا ومنله چې له IS-K سره د تړاو په تور په تېرو شپږو مياشتو کې د پوهنتون په ليليو کې محصلين نيول شوي دي. GDI د طالبانو امنيتي چارواکو ته د تکفيري تبليغاتو په برخه کې د فعالو محصلينو يو ليست وړاندې کړ او وروسته دا محصلين ونيول شول. همداشان، د کابل پوهنتون هغه محصلين چې په اصل کې د لوګر او ننګرهار وو او له IS-K سره يې اړيکې درلودې، د ولايتي امنيتي چارواکو او د طالبانو د GDI تر منځ له همغږۍ وروسته، کله چې بېرته خپلو ولايتونو ته ستنېدل ونيول شول.[63] دغې سرچينې په ډېر خوشبينۍ سره وويل چې اوس مهال هېڅ خشونت لرونکي افراطي ډله فعاليت نه لري.[64]

> طالبان پر دې بريالي شوي دي تر څو د پوهنتون انګړونه په داسې يوه چاپېرياڵ باندې بدل کړي تر څو IS-K په سختۍ سره هلته فعاليت وکړای شي

د طالبانو د ځينو چارواکو د خوشبيني باوجود، ځينې نور يې بيا ډېر زيات اندېښمن دي. دا خبره په تېره بيا د بدخشان پوهنتون د فيض اباد په اړه ډېره صدق کوي. ځينې هغه کسان چې په دغه څېړنه کې ورسره اړيکه ونيول شوه، په پوهنتون کې د طالبانو د يوه امنيتي ساتونکي په ګډون، په دې عقيده و چې په فيض اباد کې د استخدام هلې ځلې لا اوس هم دوام لري.[65] که څه هم د طالبانو سرچينې تل د نيوونو په اړه د جزئياتو له ورکړې نه تښتي، خو هغوی دا ومنله چې څو د نيولو قضيې تر سره شوې دي. د بدخشان پوهنتون په اړه، د طالبانو يوې سرچينې ادعا وکړه چې د پوهنتون هغه ښوونکي چې سلفيت ته مايل و او له IS-K او حزب التحرير سره يې تړاو درلود ونيول شول او دا چې په راتلونکې کې د زياتو نيوونو احتمال شته. هغه همداشان د له حزب التحرير او IS-K سره د محصلينو د تړاو لرلو په تور د هغوی نيول کېدل

61. د IS هغه شيوې ته اشاره چې هغه مسلمانان کوم چې له دوی سره په يوه عقيده نه وي هغه تکفيروي.
62. د کابل په لوېديځ کې د GDI له يو غړي سره مصاحبه، نومبر 2021؛
د کابل په مرکز کې د GDI له يو غړي سره مصاحبه، نومبر 2021.
63. د طالبانو له امنيتي مسئول سره مصاحبه، کابل، اکتوبر 2022.
64. *Ibid*.
65. د طالبانو له امنيتي مسئول سره مصاحبه، فيض اباد، اکتوبر 2022، د فيض اباد په پوهنتون کې له محصلينو او کارکوونکو سره مصاحبه، اکتوبر 2022.

ومنل.[66] د طالبانو نورو امنيتي ځواکونو هم په ګلبهار او ننګرهار پوهنتونونو کې د خلکو نيول ومنل خو زياتره جزئيات يې ور نه کړل.[67]

په ډېرو موارډو کې، محصلين يا کارکوونکي نېغ په نېغه خبر و چې وبه نيول شي، په ځانګړي ډول د فيض اباد په پوهنتون کې، په داسې حال کې چې ټولې سرچينې خبرې وې چې نيونې په منظم ډول رواني دي، ان که ټل يې لاملونه روښانه هم نه وو. د کابل په پوهنتون کې يو محصل خبر و چې يو محصل د IS-K سره د اړيکو په تور نيول شوی و. د ننګرهار پوهنتون کې، په نږدې تېر وخت کې په ګڼو موارډو کې له IS-K سره د اړيکو په تور ګڼ کسان ورک شوي دي.[68]

د IS-K انلاين فعاليتونو په مخنيوي کې د طالبانو د برياليتوب کچه ډېره پوښتنه زېږونکي ده. دا ليکنه نېغ په نېغه د IS-K د انلاين فعاليتونو په ارزونه نه ده ولاړه، بلکې په مرکو او له خلکو سره په نيول شويو اړيکو متکي ده، په همدې بنسټ د دې فعاليتونو هر ډول ارزونه به په متزلزلو بنيادونو ولاړه وي. سربېره پر دې، محصلين د انلاين فعاليتونو له اندازې څخه خبر نه و. د بېلګې په ډول، يو محصل ادعا کړې وه سره له دې چې ټولنيزې شبکې د بنسټپالو ډلو لپاره د افرادو د استخدام ځای و، دا ډول ډلو ډېر کم انلاين حضور درلود.[69] د پوهنتون کارکوونکو متضاد نظريات وړاندې کړل. له هغوی څخه يو تن يې وويل چې په ټولنيزو شبکو کې د سخت دريځو بنسټپالو ډلو له خوا د افرادو د استخدام فعاليتونه د طالبانو له واک ته رسېدو وروسته زيات شوي دي، خو د دې ادعاوو د ملاتړ لپاره يې نور جزئيات او شواهد ورنه کړل.[70] په بدخشان پوهنتون کې، يو بل يې د دې سره په ټکر کې نظر درلود، او څرګنده يې کړه چې واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته د IS-K له خوا د ټولنيزو شبکو څخه په کار اخيستنه کې بې مخينې کمښت راغلی دی.[71] احتمالاً تر ټولو باوري نظر د طالبانو د يو امنيتي افسر دی، چا چې ومنله چې طالبان په انلاين ډول د ډلو څارنه کوي او دا فعاليتونه دوام لري.[72]

پياوړی نظر دا و چې په انلاين ډول د IS-K فعاليت تر يو بريده خطرناک شوی دی، خو دوام لري. په څرګند ډول، IS-K په ټولنيزو شبکو کې د خپلو حسابونو تعقيب کونکو ته خبر ورکوي چې طالبان د نفوذ کولو هڅې کوي، او په ټولنيزو شبکو کې د IS-K د افرادو د استخدام له هڅو څخه په خپله کټه کار اخلي.[73] د خطر يو بل لامل دا دی چې طالبان په منظم ډول د پوهنتون په محوطه کې د محصلينو موبايلونه ګوري او د هغوی د ټولنيزو رسنيو حسابونه څاري. په پروان کې د يو محصل په وينا، محصلين د پوهنتون محوطې ته د خپلو تليفونونو له وړلو ډېره وېره لري؛ هر ډول منځپانګه چې د طالبانو مخالفينو لور ته ومونډل شي (ان يو انځور هم) شوني ده چې د نيولو لامل وګرځي.[74]

66. د طالبانو له امنيتي مسئول سره مصاحبه، فيض اباد، اکتوبر 2022.
67. د طالبانو له امنيتي مسئول سره مصاحبه، ګلبهار او جلال اباد، اکتوبر 2022.
68. په کابل او ننګرهار کې د پوهنتون له محصلينو سره مصاحبه، اکتوبر 2022.
69. د بدخشان پوهنتون له محصل سره مصاحبه، اکتوبر 2022.
70. د البيروني پوهنتون، ګلبهار له کارکوونکو سره مصاحبه، اکتوبر 2022.
71. د بدخشان پوهنتون، فيض اباد له کارکوونکو سره مصاحبه، اکتوبر 2022.
72. د طالبانو له امنيتي مسئول سره مصاحبه، ګلبهار، اکتوبر 2022.
73. Lucas Webber، "#اسلامي دولت خراسان ولايت خپلو پلويانو ته د #طالبانو له خوا کاريدونکي ټيليګرام حسابونو په اړه يو خبرداری خپور کړ چې غواړي د #ISKP شبکو ته نفوذ وکړي. #افغانستان #پاکستان" [د ټويټر پوسټ]، 7 د غرمې په، 9 نومبر 2022، <https://twitter.com/LucasADWebber/status/1590418971479904256?s=20&t=lnE3N18aXMMVBDFhFe44jw>، د 2023 د اپريل په 11 تر لاسه شوی؛ Lucas Webber او Riccardo Valle، "ISKP د نفوذ ضد خپلې هڅې پياوړې کوي"، Militant Wire، 12 سپټمبر 2022.
74. د پروان پوهنتون له محصل سره مصاحبه، اکتوبر 2022.

د IS-K سرچيني ادعا کوي چې د طالبانو اقداماتو سره سره، دوی بيا هم کولای شي د پوهنتون په محوطه کې افراد استخدام کړي. د IS-K د سرچينو له خوا وړاندې شوې ارزونې بيا هم پوښتنې پيدا کولای شي، په حقيقت کې، خو کله چې د يو بل له روايتونو سره مقايسه شي، او په پراخه معنا کې وکتل شي، دا روايتونه د پام وړ برېيا انځور نه وړاندې کوي، او په همدې بنسټ په نسبي ډول د منلو وړ دي. په پرتليز ډول داسې ښکاري چې IS-K د ننګرهار پوهنتون په محوطه کې يې ښه کار کړی دی. د IS-K يوې سرچينې ادعا کړې چې د 2022 د مارچ له مياشتې تر نومبر مياشتې پورې، دا سازمان توانيدلی و چې په ننګرهار کې له 30 زيات محصلين استخدام کړي، چې د هغوی له ډلې ډېری يې له جنګي واحدونو سره يو ځای شوي دي، او يو شمېر يې د تبليغات کوونکو او تلقين کونکو په توګه يوځای شوي دي او مختلفو ځايونو ته استول شوي دي.[75] له بلې خوا په کابل کې، واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته د IS-K استخدام کولو کې د پام وړ کمښت راغلی دی، دا له دې امله چې طالبانو په پراخه کچه د جاسوسانو او مخبرانو ځانګړې پراخه شبکه جوړه کړې ده. د راپورونو پر اساس د طالبانو له خوا يوه ډلګۍ پېژندل شوې وه، خو د دې ډلګۍ د غړيو له نيول کېدو مخکې هغوی په تېښته بريالي شوي وو.[76] په همدې بنسټ، په ټوليز ډول، په افغانستان کې د سلفيت د خپرېدو په پام کې نيولو سره (چې په پراخه کچه په شمال او شمال ختيځ کې متمرکز دي) او د ننګرهار پوهنتون د IS-K لپاره د استخدام يو تر ټولو لوی ځای دی، په کلنيز ډول د پوهنتون په محوطه کې د IS-K له خوا د استخدام کچه له 100 کسانو څخه زياته نه شي اټکل کېدای. په هر حال، دا استخدام شوي افراد به ټول ارزښتمن کادرونه وي.

په داسې حال کې چې د افرادو استخدام بيا هم جريان لري، خو بيا هم د IS-K له خوا د افرادو د جذب په وړتيا کې بايد مبالغه ونه شي. په کابل کې يو استخدام کونکي وويل چې د پنځو کسانو له منځه چې هغه د هدف په توګه غوره کړي او تعقيب کونکي ټيم ته يې سپارلي وو، يو له دوی سره يوځای او څلورو انکار وکړ؛ او د 2022 د نومبر تر مياشتې پورې يو يې تر جريان لاندې و.[77]

## د IS-K متقابل اقدامات او امکانات

### موافقت

په داسې حال کې چې طالبان هڅه کوي د افغانستان په پوهنتونونو کې د IS-K له خوا د افرادو د استخدامولو شبکې بندې کړي، IS-K يوازې په چوپتيا سره ننداره نه کوي. په حقيقت کې، اکثريت هغه کسان چې مرکې ورسره شوي اټکل کوي چې په ټولنيزو رسنيو کې د IS-K لپاره د افرادو د استخدام فعاليت روان دی، خو پټ او په خصوصي چينلونو کې دي، ان تر دې چې د دوی له منځه ډېريو يې ادعا کړې چې نه پوهېږي په ټولنيزو رسنيو کې استخدام څه ډول تر سره کېږي. د طالبانو يو امنيتي مسئول تشريح کړه، په داسې حال کې چې طالبان کولای شي د فيسبوک ګروپونو ته ننوځي، او د IS-K له خوا د فيسبوک کارول کم شوي دي، IS-K د ټيليګرام، انسټاګرام، واټساپ او سيګنال استعمال ته مخه کړې ده.[78] له همدې امله د ټولنيزو رسنيو په خصوصي چينلونو مخ پر زياتېدو باور د توافق يوه مهمه بڼه ده. د پروان په پوهنتون کې يو کارکوونکي موافقه وکړه چې د طالبانو د دقيقې ارزونې له کبله، IS-K نېغ په نېغه د ټولنيزو رسنيو د شبکو له لارې فعاليت نه کوي. هغه د واټساپ او فيسبوک مسينجر د مثالونو په ورکولو سره موافقه وکړه چې احتمالي افرادو ته د بلنې ورکولو لپاره له خصوصي چينلونو څخه کار اخيستل کېږي. اسلامي مواد، د هغو په ګډون چې خطر پېښونکي نه دي، لکه حديثونه (د پيغمبر ويناوې)، په خصوصي چينلونو خپرېږي تر

75. په ننګرهار پوهنتون کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، نومبر 2022.
76. په کابل پوهنتون کې د IS-K له استخدام کوونکي سره مصاحبه، نومبر 2022.
77. په کابل کې د IS-K له استخداموونکي سره مصاحبه د 2022 کال د نومبر 2.
78. د طالبانو له امنيتي مسئول سره مصاحبه، فيض اباد، اکتوبر 2022.

ځو پرهيزګاره محصلين جذب کړي، چا ته چې وروسته زيات سياسي مواد ښودل کېږي.[79] د پروان پوهنتون يو محصل ووېل چې محصلين د واټساپ ګروپونو ته اضافه کېږي، کومو کې چې د عمومي مذهبي موادو ټولګي، او په خاص ډول سلفي تبليغ شريکېږي، که دوی دا مواد خوښوي که يې نه خوښوي. د راپورونو پر بنسټ دا ګروپونه په بې نومه ډول پر مخ وړل کېږي.[80] په کابل کې يو محصل ادعا وکړه چې هغه پوهېږي "سخت دريځي بنسټپال ګروپونه" په ټولنيزو رسنيو کې مواد خپروي، خو له دې امله چې دې ګروپونو ته يوازې په بلنه يوځوک اضافه کېدای شي او هغه يې غړی نه دی، هغه نور معلومات نه شي ورکولای.[81] دا روايتونه له هغو معلوماتو سره سمون لري چې د افغانستان په پوهنتونونو کې د طالبانو له واک ته رسېدو ځخه وروسته د IS-K د فعاليتونو په اړوند له مرکو ځخه تر لاسه شوي دي.

د IS-K له خوا يو بل توافق دا دی چې هغوی د خپلو ټولنيزو رسنيو فعاليتونه بهر ته لېږدوي، په ځانګړي ډول اروپا ته، چېرته چې په زياته کچه افغان کډوال اوسېږي. د طالبانو يو امنيتي مسئول تاييد کړه چې ان د فيسبوک هغه حسابونه چې د امارت د نړېدو تبليغات کوي اوس هم فعال دي، خو د IS-K د غړيو له خوا چې له هېواده بهر مېشت دي.[82] په دا ډول فعاليتونو کې له مشغولېدو وروسته، احتمالي افراد بې نومه واټساپ او ټيليګرام چينلونو ته بوتلل کېږي، چېرته چې د رسمي استخدام له رامنځ ته کېدو مخکې اضافي ارزونه تر سره کېږي. خو په حقيقت کې، طالبان له هېواده بهر د IS-K د مېشتو تبليغات کونکو پر ضد ډېر ځه نه شي کولای.[83]

د انلاين فعاليت د بدلون په برخه کې د زياتې پاملرنې تر څنګ، شوني ده چې IS-K د پوهنتون په محوطه کې د طالبانو د موجوديت سره بيا هم ځان برابروي. د دې پوښتنو د تر سره کولو پر مهال، د طالبانو له خوا په پوهنتونونو کې له پرانيستلو ځخه يوازې 10 مياشتې تېرې شوي دي او شوني ده چې IS-K د نويو شرايطو په ارزونه بوخت وي او/يا دې ته انتظار باسي چې د استخدام د فعاليتونو له پيل کولو مخکې طالبان په خپل سياسي موقف کې ښه ارام شي. د بېلګې په توګه د طالبانو له تمرکز ځخه د خوندیتابه په موخه، شوني ده چې استخدام کونکي په هغو جوماتونو کې د استخدام بهير زيات کړي، چېرې چې سلفيت ته تمايل لرونکي محصلين ډېر تګ راتګ کوي. داسې ښکاري چې طالبان هم همدا فکر لري، له همدې امله مسجدونه ټاکلی وخت لري او په دې مسجدونو سخت محدوديتونه اېښودل شوي دي.[84]

---

79. د پروان پوهنتون له کارکوونکو سره مصاحبه، اکتوبر 2022.
80. د پروان پوهنتون له محصل سره مصاحبه، اکتوبر 2022.
81. د کابل پوهنتون محصل سره مصاحبه، اکتوبر 2022.
82. د طالبانو امنيتي مسئول سره مصاحبه، جلال اباد، اکتوبر 2022.
83. Antonio Giustozi و Petra Regeni، ’The Taliban Take-Over: The Impact on Extremist Organisations and on EU Audiences at Risk of Radicalisation‘؛ د RAN له تګلارې د ملاتړ مقاله، 2023، مخ، 18.
84. د Antonio Giustozzi له خوا ليکل شوي "ايا د سلفيانو او طالبانو ستونزه حل کېږي؟" [’Will the Problem of Salafis and the Taliban be Resolved?] ته مراجعه وکړئ، *BBC فارسي*، 1 اپريل 2022، <https://www.bbc.com/persian/blog-viewpoints-60955700>، د 2023 اپريل 11 کتل شوی؛ همدا راز په ټويټر کې په يو سلفي حساب کې په کندهار کې د جوماتونو د تړل کېدو په اړه انديښنې يو اعلان وګورئ Akhbar al dawat alsalafiat fi ‘afghanistan wa mueanaatuha [په افغانستان کې د سلفي خوځښت خبرونه او د هغې ستونزې]) [ټويټر پوسټ]، د 2022 کال د اکتوبر په 17 3.19 د غرمې په، <https://twitter.com/iuHX8yv3QSuNjE6/status/1581832221983326208?s=20&t=W6FG20-A0Ad-SjFubscCSQ>، د 2023 کال د اپريل په 11 کتل شوی دی.

## هیله ببنونکی چاپیبال

شونې ده چې په اوږدمهال کې د پوهنتونونو محوطې یو ځل بیا د IS-K د استخدام لپاره یو ښه چاپېریال شي، ځکه چې په پوهنتونونو کې ډېری محصلین ناهیلي شوي دي، د طالبانو پر ضد حساسیت زیات دی، او د راتلونکي په اړه هیله کمه او نا امیدي زیاته شوې ده. د افغانستان د څلورو بېلا بیلو پوهنتونونو په محوطو (کابل، جلال اباد، ګلبهار او فیض اباد) کې د پوهنتونونو د محصلینو او تدریسي کار کوونکو سره د 15 مرکو پر بنسټ قضاوت کولو سره، محصلین کوښښ کوي چې په پوهنتونونو کې د طالبانو له نویو قوانینو سره ځان برابر کړي، لکه د نجونو او هلکانو جلا کول او د طالبانو د یونیفورم منل. داسې ښکاري چې د هغوی په وړاندې د طالبانو تاوتریخوالی چې نوي اصول نه مني، او د طالبانو دا سابقه چې د سرغړونکو کورنۍ په نښه کوي، به د ډېرو محصلینو د ناخوښۍ یوه سرچینه وي. ډیری محصلین خپل ځانونه د طالبانو د چلند له امله سپک شوی بولي، په داسې حال کې چې د څېړنې ځواب ویونکو ویلي دي چې دوی د طالبانو له واک ته رسېدو مخکې اسلام ته ژمن وو او له دین څخه د طالبانو د تعبیر عملي کولو ستاینه نه کوي. محصلینو ادعا کړې چې دوی د دویم ځلې لمانځه اداء کولو ته اړ شوي دي، ځکه طالبان باور نه لري چې دوی لمونځ کړی دی؛ دوی وایي له دې امله چې دوی د لمانځه له اداء کولو وروسته په روژه کې بیا ویده شوي دي نو وهل شوي دي؛ او دوی د لمانځه له اداء کولو وروسته اړ شوي دي چې د طالبانو اړوند ملایانو تبلیغ واوري؛ او دا چې نارینه اړ کړای شوي دي، د پوهنتون په محوطه کې دودیز افغان کالي واغوندي، په داسې حال کې چې ښځې د تورو نقابونو اغوستلو ته اړ کړای شوي دي (وړاندې تر دې چې په لوړو زده کړو کې د ښځو پر ګډون باندې بندیز ولګول شي). که څه هم کېدای شي دا ډول ناهیلیتوب محصلین د IS-K لور ته بو نه ځي، احتمال شته چې د محصلینو په منځ کې یې د طالبانو له چارواکو سره همکاري کمه کړې، او په همدې بنسټ د تروریزم ضد اقداماتو د پلې کېدو له سختوالي سره مخ شي.[85]

نږدې ټولو محصلینو له فراغت وروسته د کار بازار په اړه ناهیلي وو. زیات شمېر محصلینو څرګنده کړې وه چې غواړي د زده کړو له بشپړولو وروسته له افغانستانڅخه کډوال شي، ځکه دوی شک درلود چې وبه کولای شي په خپل هېواد کې کار پیدا کړي. په ګلبهار کې په یو خصوصي پوهنتون کې یو کار کوونکي ادعا وکړه چې په خصوصي پوهنتونونو کې تر 90% پورې محصلینو د راتلونکي په اړه د خپلې نا هیلۍ له امله زده کړه پرېښې ده.[86]

د پنځو مختلفو پوهنتونونو کارکوونکو موافقه وکړه چې د ښوونکو په معاشاتو کې کمښت، د تدریس ساعتونو زیاتوالی او له افغانستان څخه د ډېرو وړتیا لرونکو ښوونکو وتل، د تحصیل په معیار اغېز کړی دی. د رپوټونو له مخې، د پوهنتون ښوونکي بې انګېزې او له حد نه زیات کار یې کاوه، په تېره بیا د جنسیتي بېلوالې له امله د تدریسي ساعتونو د زیاتوالي په پایله کې (په پوهنتون کې پر ښځو د بندیز له لګېدو وړاندې) اړین و. محصلین هم د تدریس د کیفیت معیار ټیټېدو ته متوجه شوي دي.[87]

په داسې حال کې چې غوڅ اکثریت محصلین په افغانستان کې د ناڅرګندې راتلونکې سره مخ دي، او غواړي چې کډوال شي، د محصلینو یو اقلیت چې سلفیت ته میلان لري، شونې ده چې د IS-K د استخدام سره مخ شي. شونې ده هغه محصلین چې سلفیت ته میلان لري، د پوهنتونونو په محوطه کې له دیني اړخه د طالبانو د ځینو چلندونو په وړاندې د نا ارامۍ احساس کړی وي، ځکه چې سلفیان د ډېرو دا ډول په مخالف کې چلند لري، لکه څنګه طالبانو چې د ښځو او نارینه وو لپاره یونیفارم ټاکلی دی. سلفیان له شریعت څخه خپل ځانګړی تفسیر لري، او شونې ده هغه

---

85. د کابل پوهنتون، ننګرهار پوهنتون، البیروني پوهنتون (ګلبهار)، بدخشان پوهنتون او پروان پوهنتون کې له 10 محصلینو سره مصاحبه، اکتوبر 2022.
86. د البیروني پوهنتون (ګلبهار)، له کارکوونکو سره مصاحبه، اکتوبر 2022.
87. د کابل پوهنتون، ننګرهار پوهنتون، البیروني پوهنتون (ګلبهار)، بدخشان پوهنتون او پروان پوهنتون له پنځو کارکوونکو سره مصاحبه، اکتوبر 2022.

څه چې نورو ته کوچني اختلافات ښکاري، د هغو لپاره به لويي معناوې ولري چې په موضوع کې ښکېل دي. په پوهنتونونو کې خپور د سلفيت ضد اعمال، طالبان غواړي چې په پوهنتونونو کې ديني خبرې اترې تر خپلې واکمنۍ لاندې ولري، او سلفي علماء او مدرسي هدف وګرځوي، په سلفي محصلينو کې پياوړي احساسات شوني ده چې دوی د IS د استخدام کولو لپاره هدف وګرځوي. د طالبانو يوې امنيتي سرچينې څرګنده کړه چې د حکومت له بدلېدو يو څه موده وروسته، سلفيانو غوښتل له طالبانو سره کار وکړي، خو هغه ومنله، وروسته له دې چې طالبانو د هغوی ځيني *علماء* په نښه کړل، د بدخشان پوهنتون په محوطه کې له هغې وروسته د طالبانو ضد احساساتو کې د پام وړ زياتوالی راغی.[88]

## پايله

دې مقاله کې د افغانستان په پوهنتونونو کې د IS-K د موجوديت او د طالبانو د حکومت له خوا د هغوی پر ضد تر سره شويو تروريزم ضد هڅو ارزونه شوې ده. موخه يې په يوه قضيه کې د تروريزم پر ضد د طالبانو د فعاليت ارزول دي – په پوهنتونونو کې د IS-K د فعاليتونو پر ضد – همدا راز د هغو لارو ارزول دي چې IS-K هڅه کوي خپلې يې کړي. څېړنيز ټيم د IS-K د پېچلو لارو چارو شواهد راټول کړي، په کومو کې چې د افغانستان په پوهنتونونو کې دوی افراد استخداموي، د دې تر څنګ مخ په مخ او له لېرې ځای تخنيکونه هم کارول شوي دي. همدا راز روښانه ده چې د IS-K له خوا د افرادو استخدام کول په يوه کوچنۍ محدوده تمرکز لري: تر ډېره بريده سلفيان او سلفيت ته مايل محصلين. په همدې بنسټ، دا کړنلاره کولای شي محدود شمېر کې افراد جذب کړي، چې شوني ده په يو کال کې له څو سوه کسانو زيات نه وي. خو بيا هم، استخدام شوي کسان له کيفي اړخه په لوړه کچه کې دي او IS-K چې لوړه ايډيالوژي او نظم لري د خپلو عملياتو د دوام لپاره په دغو کسانو پورې تړلې ده.

داسې ښکاري چې په حقيقت کې طالبانو دې ستونزې ته د پام وړ پاملرنه کړې ده. يقيناً چې د اسلامي جمهوريت له خوا د IS-K په وړاندې د زړه نازړه هلو ځلو ورځې تېرې شوي دي. IS-K ته د فعاليتونو د فضا په محدودلو سره چې دوی مخکې په واک کې درلوده، طالبانو د IS-K د افرادو د استخدام وړتيا محدوده کړې ده. په هر حال، بيا هم د IS-K له خوا د افرادو د استخدام لپاره د هغوی په ګټه شرايط موجود دي. دا شرايط په لاندې ډول دي:

- د يو شمېر حنفي محصلينو له خوا د سلفي محصلينو ځورول، کوم چې د واکمن حنفي مذهب په وړاندې د هغوی خفګان پياوړی کوي.
- له شکمنو سره د طالبانو د پوليسو او استخباراتو سخت چلند کول، چې شوني ده يو شمېر د غچ اخيستلو په موخه له IS-K سره يوځای کېدلو لپاره اړ کړي.
- د محصلينو لپاره په شرايطو کې پراخه ناهيلي او د امکاناتو کمښت.
- په بې تاوتريخوالي بنسټپالو ډلو چې په محصلينو کې جرړې لري، د طالبانو د فشارونو زياتوالی، لکه حزب التحرير، جمعيت اصلاح، او نور، چې شوني ده دوی خپل ځيني غړي د IS-K لور ته رهي کړي.

88. په فيض اباد کې د طالبانو له امنيتي مسئول سره مصاحبه، اکتوبر 2022.

په بله وينا، په پوهنتونونو کې له ترهګرۍ سره د طالبانو مبارزه پر سرټکولو باندې متمرکزه ده، خو د هغو د مخنيوي لپاره په ظاهره توګه ډېر کم موارد تر سترګو شوي دي. د IS-K د فعاليتونو د کمولو لپاره د د درنو تدابيرو په کارولو سره د طالبانو ورتيا دا خطر هم له ځانه سره لري چې دا لاره چاره به په لنډمهال کې مثبته پايله خو په اوږدمهال کې به معکوسه پايله ورکړي، په تېره بيا له دې خاطره چې طالبان هڅه کوي د خپلو پلويانو او په حقيقت کې هر هغه کس کړه وړه محدود کړي کوم چې د سلفيت ضد ليدلورى لري.

د مخنيوي يوې باثباته تګلارې نه شتون دا معنا لري چې د IS-K د استخدام بالقوه حوزه نه کوچنۍ کېږي، په دې اټکل کولو سره چې د افرادو د استخدام محرک ځواکونه، لکه د محصلينو ناهيلي او د حنفي-سلفي ځانګو تر منځ خفګان په خپل ځاى پاتې کېږي. شوني ده چې د طالبانو فشارونه دې حوزې ته د IS-K په لاسرسي کې کمښت راولي، خو دا به يوازې د لنډ مهال لپاره وي، په ځانګړي ډول دې ته په کتنې سره چې IS-K د افرادو د استخدام خپلې لارې چارې بدلوي او تصفيه کوي. په حقيقت کې، په کابل کې د حکومت له بدلېدو څخه په پرتليز ډول کم وخت تېر شوى (د دې ليکنې پر مهال يو کال او پنځه مياشتې)، داسې نښې موجودې وې چې IS-K بدلون موندلى، په دې ډول چې:

- د ټولنيزو رسنيو په خصوصي چينلونو زياته تکيه کول.
- د ټولنيزو رسنيو خپل فعالان له هېواده بهر لېږدول.
- خپلو غړيو او خواخوږو ته د طالبانو د نفوذيانو او تحريکونکو د خطر په اړه خبردارى ورکول.

په پوهنتونونو کې د حنفيانو او سلفيانو تر منځ کړکېچ، د طالبانو او د سلفيانو د مشرانو تر منځ يو پر بل باور سختوي. په همدې بنسټ، روښانه ده چې په راتلونکي کې به د مخنيوي کونکو تګلارو جوړول او پلي کول ستونزمن وي. له دې پرته هم، د يو شمېر مخنيوي کونکو اقداماتو څخه پرته، شوني ده چې طالبان به د IS-K په وړاندې خپل ځانونه يوې اوږدې مبارزې ته اړ کړي.

## د ليکوال په اړه

**Antonio Giustozzi** په RUSI کې د تروريزم او شخړې (Terrorism and Conflict) ټيم کې يو ارشد څېړونکى دى. نوموړي د 1990 زېږديزې لسيزې راهيسې د افغانستان په اړوند کار کړى، او په ځانګړي ډول د دې شخړې په اړه يې پراخه څېړونې کړې دي، په ځانګړي ډول د طالبانو او اسلامي دولت په اړه. د هغه د څېړنې اساسي لېوالتياوې په افغانستان، پاکستان او ايران کې نړيوال جهاديزم، امنيتي سکتور او دولت جوړول، او بغاوتونه دي.

## د RUSI په اړه

د شاهي متحده خدماتو انستيتوت (Royal United Services Institute, RUSI) د نړۍ يوه تر ټولو زړه او د بريتانيا يوه مخکښه دفاعي او امنيتي فکر خونه ده. موخه يې د يوې امن لرونکي او ټيکاو لرونکي نړۍ په اړه د عمومي بحثونو په اړه خبررسوونه، اغېزمنول او پياوړتيا ده. RUSI يوه څېړنيزه موسسه ده چې د نن ورځې د پېچلو ننګوونو د هواري لپاره خپلواک، عملي او نوښتګرانه تحليلونه توليدوي.

په 1831 کال کې د هغه له رامنځته کېدو وروسته، RUSI د خپلو فعاليتونو د ملاتړ لپاره پر خپلو غړو باندې تکيه کړې ده. له دې سره جوخت، RUSI د خپلو څېړنو، خپروونو او کنفرانسونو له لارې په تر لاسه شوو عوايدو سره خپله سياسي خپلواکي د 192 کلونو لپاره خوندي ساتلې ده.

دا خپرونه د اروپايي ټولنې له خوا تمويل شوې ده. د دې مطالبو مسووليت يوازې د شاهي متحده خدماتو انستيتوت (Royal United Services Institute) پورې تړلې خو د اروپايي ټولنې د نظرونو منعکسوونکې نه دي. په دغه خپروونه کې ځرګند شوې نظريې د ليکوالانو اړوند دي، او په هېڅ صورت د RUSI يا کومو نورو نهادونو د نظرونو منعکسوونکې نه دي.

په 2023 کال کې د دفاعي او امنيتي مطالعاتو د شاهي متحده خدماتو د انستيتوت له خوا خپور شوی.

© 2023 اروپايي کمېسيون. ټول حقونه خوندي دي.

**د دفاعي او امنيتي مطالعاتو د**
شاهي متحده خدماتو انستيتوت
Whitehall
London SW1A 2ET
بريتانيا
+44 (0)20 7747 2600
www.rusi.org

RUSI يوه ثبت شوې خيريه (شمېره: 210639) اداره ده

Funded by
the European Union